

ليتكي
Pukhto.Net
عاطر یوسفزے

زما کتاب زما دے

دَ کتاب نوم ——— لیستکي

وېنا وال ——— عاطرؔ یوسفزے

دَ چاپ کال ——— ۲۰۰۴ء

دَ چاپ شمېر ——— یو زر (۱۰۰۰)

چاپ خانه ——— ماسټر پرنټرز محله جنګي پېښور

کتابت ——— ارشاد خان پښتو اکېډیمي
پېښور پوهنتون

خورونکے ——— پښتو ادبي غورځنګ ریاض
سعودي عرب

بیعه ——— (۱۰۰) سل روپۍ


## درکونه

* دفتر، پښتو ادبي غورځنګ ریاض
* دفتر، همېشه پښتو ادبي ټولنه امان دره ملاکنډ ایجنسي
* کتاب پلورنځے پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون
* حماد بک سنټر امیر فضل خان پلازه بټ خېله
* جمیل برادرز بکسېلرز بټ خېله

# تړون

دَ خپل مشر زوئ

## خیام یوسفزي

په نوم چې زما دَ ادبي سفر ملګرے او زما دَ فن وارث دے

عاطر یوسفزے

# د وینا وال پېژندګلو

خپل نوم ——— برادر خان

قلمي نوم ——— عاطر یوسفزے

د پلار نوم ——— حاجي شمشاد خان

د زوکړې ځاے او نېټه ——— بټ خېله - ۳، نومبر ۱۹۵۵

زده کړه ——— خوارلسم

ادبي تړون ——— پښتو ادبي غورځنګ ریاض
سعودي عرب

عارضي درک ——— ریاض منفوحه سعودي عرب

موبائیل فون نمبر ۰۵۹۴۹۸۳۶۴

مستقل استوګنه ——— محله قائد آباد، بټ خېله
ملاکنډ ایجنسي

فون نمبر: ۴۱۱۸۰۲ - ۰۹۳۲۳

PUKHTO.NET

# دَسرتهکي

ژوند دَ بوله پسې منډو تړړو او مختلفو حوادثو نوم دے. ظاهره خبره ده چې په حيث دَ يو انسان زۀ هم لکه دَ نورو انسانانو ددغه حوادثو سره مخ کيږم - او دَ خپل چاپيرچل نه متاثره کيږم.

په حيث دَ يو شاعر ما خپل احساسات او جذبات دَ خپلې نيمګړې پوهې او فن مطابق قلم ته سپارلي دي. او کوشش مې کړے دے چې خپل احساسات او جذبات په اسانه او ساده ژبه کښې ګرانو او قدردانو لوستونکو ته ور اورسوم.

نۀ پوهيږم چې ترکومه حده پورې به په خپل مقصد کښې کامياب شوے يم - ددې فيصلې حق دَ ګرانو لوستونکو، شاعرانو، ادب پوهانو او کره کتونکو سره دے - زۀ خو صرف دومره قدرې ويلے شم چې انسان په خپل وس پړ دے. زما دغه وس دو - چې ليتکې په لاس دَ ادب پوهانو او دَ کره کتونکو په خدمت کښې حاضر شوے يم - منم چې دَ ليتکو رښا به تته وي.

خو دَ پوهانو دَ خپل نظر رڼا به ارو مرو وي. چې زما دَ فن ګله په ژور نظر کره کتنه اوکړے شي. او زما دَ اصلاح په غرض به ما په خپلو سودمنو مشورو اونما ئيځي.

سره دَ نيکو پېر زوينو
ستاسو دَ رائے په طمع

عاطر يوسفزے

PUKHTO.NET

# رنوزي

ملاکنډ دَ شاعرانو جنت دے - دې خاورې چې کومه شاعري راټوکولې ده - یا کوم شعر راززغونوي - دَ هغې مثال که چرته موندے هم شي - نو ډیر خال خال به وي. ځکه چې دا لیکه نه یوازې دَ فطرتي حُسن او قدرتي ښکلاګانو ځانګوده - بلکې ددغه حُسن او ښکلا دَ جوتولو په ترڅ کښې دَ ښیرازه ذهنونو او رسا نظرونو غني هم ده -

برادرخان عاطر – ددې ګلورینې او مردم خیزې سیمې نغمه ګر دے - دَ یوې مودې راسې شعرونه لیکي - او دَ خپل شوق تنده سړوي - تر اوسه پورې دَ هغه شاعرې دَ حالاتو په طاقِ نسیان کښې پرته وه - دَ ډیرې دورې او ګردونه پرې بادیده - خو دا دَ هغه ښکمرغي ده - چې خدائے ورته دَ خیام یوسفزي په صورت کښې دَ مال دَ وارث سره سره دَ ادبي میراث وارث هم ورکړو. او دادے نن دَ پلار شاعري زوئے دَ "لیتکي" په رنګ کښې زمونږ لاسو ته رارسوي.

PUKHTO.NET

دَ "لیتکي" دَمطالعې نه داخبره ښې ته راځي - چې دې شاعرۍ سرهم په روایتي توګه دَ یوې جذباتي ډغرې نه انښتې دے. ډغې ډغرې چې په سینوکښې یُو دوه زړونه درزولي دي - نو دَ یوې حادثې بڼه یُې اختیارکړې ده. اودَ عاشق دنسه چې دغې حادثې کومې زلزلې راوستي دي - دا شعرونه ددغه کیفیاتو یو دردناک اظهار دے.

څهٔ قیامتونه تلل راتلل تا چې رخصت اخستو
روح دَ کالبوته مې دانګل تا چې رخصت اخستو

ستا دَ مینې برکت دے
خلق ما پورې خندا کړي

ښکُنګ به ستا سره خبرې اوکړمه
ګوره چې کوڅې له خلقو ډکې دي

لمبې کره پورته په بلې اودربره
خلق دَ داسې اوره نهٔ خبربږي

ستا به سترګې کړمه ښې ستا به روح کړمه خوشحاله
زهٔ به دومره درنږدې شم ته نهٔ زبونږ کلې ته راشه

شاعر حساس وي . او د هغه هيڅ کله د معاشي او
معاشرتي ناهموارو ، ظلم ، جبر او استحصال نه سترګې
نشي پټولی . ولې د شاعر سره دا ښځې نه ښائيږي چې
هغه دې د يو سياسي ليډر په رنګ د اولس د معصومو
جذباتو سره خطرناکې لوبې اوکړي . بلکې شاعر سترګه ور
وي . او د سترګه ور دپاره محض په يو څيز پسې ورپسې
کېدل . او د نورو زمکنيو شيانو د حقائقو نه سترګې
پټول داسې دي لکه چې هغه څېله د خپل فن د تدريجي
ارتقاء په مرۍ کوتې اېږدي . عاطف صيب په ځنو ځايونو
کښې دغسې په نظر راځي . او د فن د ودې په حواله
په اکثرو ځايونو کښې هغه په يو ځائے ولاړ ددغې
المېې ښکار ليدے شي . د پوهانو يوه ډله د شعر د
اغېزې په لړ کښې د لفظونو د اهميت نه انکار کوي .
او په دې خبره جه دي . چې اصل څيز خو د شعر
روح دے . څه چې لوستونکے متاثره کوي . لفظونه
خو صرف يوه وسيله ده . چې دغه روح قاري ته
رسوي . ولې د دويمې ډلې خيال دے . چې د لفظونو
د ترتيب په ذريعه په شعر کښې يو خاص داخلي او
خارجي اهنګ پېدا کولے شي . او هم دغه توکے په شعر
کښې د اغېزې سوب ګرځي . خو دا خبره هم په خپل ځائے
وزن لري . چې د شعر تاثير محض په روح يا يوازې د

PUKHTO.NET

شعر په ځاندره کښې نۀ دے . بلکې دواړه سره چې ګډ شي . نو یو زړۀ قبولونکے اثر ترینه وجود بیا مومي .

دَ ښاغلي برادر خان عاطرؔ په شعر کښې روح شته خو دغه روح پکښې دَ غریدو ترحده محسوسیږي . دغه رنګ دَ شعر دَ ځاندرې رغونه ئې هم دَ الفاظو بو قلموني نۀ لري . بلکې ځنې شعرونه ئې داسې الفاظ هم لري - چې هغه دَ عاطرؔ صیب دَ خیال دَ ابلاغ حق نۀ ادا کوي - او دا ځنې دَ هغه دَ ذخیرۀ الفاظو غریبي په ګوته وي .

په هر طور هغه دَ خپل وطن نه لرې – ډیر لرې ، دَ مسافرۍ او مزدورۍ شپې سبا کوي - په روحاني توګه هغه دَ خپل خوږ هیواد سره تړلے دے . هم دا وجه ده چې دَ خپلې خاورې خوشبو په وجداني طور محسوسوي . هغه - هاغه روح چیچونکې زبیرګې او درد لړلې اوازونه اوري - کوم چې ددې ځائے نه پورته کیږي . او دَ تخیّل په سترګو هغه ظلمونه او زیاتي هم ویني - چې دَ هستۍ ګریوان ته لاسونه اچوي - په داسې حالاتو کښې ددغه وجداني احساس دَ شورنه که هغه ځان په دړه نشي ساتلے . نو دومره ورله هم جذباتي کیدل نۀ دي پکار ، چې په هغه باندې دَ یو شاعر نه سیوائی زما دَ وراندې ذکر شوې رائې چاپ اولګي . ځکه چې اوس وختونه خپل

PUKHTO.NET

اړخونه بدلوي. او وخت راغلے دے. چې د نن شاعر مجتهدانه انداز نظر خپل کړي. نه چې د سیاسي ټپو په یا قربان دې خپله زاره شنه کړي. بلکې په شعر کښې دې داسې فکر انګېزې تجربې اوکړي. چې نتائج ئې د اجتهادي کلیو په صورت کښې را اوځي. او د هغو په ذریعه دې د خپلې معاشرې ګنجلکې مسئلې او کتاڼې هوارې کړي. ولې تر کومې پورې چې د عاطر صیب د شعر اړیکه ده. نو هغه په زور رباب د زړو تارونو د سورولو قائل دے. او د زړو نغمو شورولو په حق کښې دے. او هم له دې امله د هغهٔ په شاعرۍ کښې د روایاتي مضامینو د چېړلو انګې اوریدے شي. چې د هغهٔ شعري ارتقاء ته ئې د عصري تقاضو په تناظر کښې زبردسته صدمه رسولې ده.

ولې بیا هم د عاطر صیب د دې وروستۍ دورې په کلام کښې ځنې داسې شعرونه شته. چې هغه د خیال، معنٰی، مقصدیت، حُسن سادګۍ او ژوند له رویه مونږ ته ښهٔ شعرونه په چاپېرې کښې اچولے شو. خو دغه رنګ شعرونو شمېر د نورو ډېرو شعرونو په مقابله کښې چې هغه څهٔ نه څهٔ فني الودګي لري. ډېر کم دے خدائے دې اوکړي. چې د "لیتکي" په راتلونکي وخت کښې داسې "رښوزي" اوزېږوي چې د پښتو او پښتنو د وارو په ښهٔ راشي. آمین

علي خیل دریاب

آمان دره. ملاکنډ ایجنسي

PUKHTO.NET

# عاطر یوسفزي لیتکي په لاس

# دَ منزل په لور

براد رخان عاطر چې په ادبي دنیا کښې دَ عاطر یوسفزي په نوم پېژندے شي. دَ هغوئ دَ اولني شعري ټولګې (لیتکي) نومې کتاب مسوده مې څې ته پرته ده. په دې غرض چې څه پرې اولیکم.

حېران یم چې له کوم ځائے نه شروع اوکړم. ولې چې عاطر یوسفزے زمانه دَ عمر اؤ ادب دواړو په لحاظ مشر دے. زۀ دومره نۀ یم چې دَ عاطر یوسفزي دَ شخصیت او فن احاطه اوکړے شم. دَ ادب پوهه کس په کتاب لیکل دَ لوړې پایې دَ ادیباتو، لیکوالو، پوهانو اؤ سترګه ورو خلقو کار دے. نۀ شم وئیلے چې عاطر صیب خفګه اؤ ولې دې ګران کار دپاره (چې زۀ ئې ځان جوګه نۀ ګڼم) غوره کړے یم.

دَ پښتو یو متل راته رایاد شو چې "هندو دَ یار دپاره دَ غوا غوښه خوړلې ده." اؤ بیا ماته خو ځکم

شوی دی او هغه هم د عاطر یوسفزي غونډي ملګري له ارخه .

کام دی که ناکام دی خو راپغاره دی . او قلم په دي ډاډ راپورته کوم چې عاطر صیب له الله پاک پراخه سینه لوی زړه او ډېر ښه خوي ورکړی دی . که انصاف مي ورسره اونکړې شو . نو هم يې په تندي کښي ګونجي نه شي راتلی - زما کم علمي ، ناپوهي او کمزوري رايي ته هم په درنه سترګه ګوري . عاطر یوسفزی زه پېژنم او ډېر د نږدې نه يې پېژنم .

د عاطر یوسفزي د نوم او ربيد و سره مي فکر د نن نه تقريباً دېرش کاله اګاهو کال ۱۹۷۰ء په زغل اوکړي . کله چې زه د اتم جماعت طالب علم وم - او د بورډ د امتحان ورکولو په سلسله کښي سره د نورو ملګرو د څه وخت دپاره د بټ خېلي په ظفر پارک استوګن وم . هغه وخت عاطر یوسفزی ، برادر خان عاطر وو - او د تانۍ په کالج کښي يې سبق وئيلو . د پښتو ادب مينه او ليکوال وو . خبر شوی وو . چې زه هم د پښتو ژبي او ادب مينه وال يم . نو دغې رشتې زما پوري را اورسولو . او ترڅو چې زه په بټ خېله کښي وم . زما به د عاطر یوسفزي او د هغوی د نورو ليکوالو ملګرو لکه جمعه رحمن افکار نور محمد مشال ، سيد رازق کوثر ، بشير احمد قاصر

PUKHTO.NET

محمد اسلام نګار سرحدي او داسې نور وګڼو ملګرو سره روزانه لیده کاته کېده. د نورو ملګرو ذکر به چرته بیا په خپل ځای وکړم. اوس مې خبره د عاطر یوسفزي کوله. او هغه دا چې د دغې ملاقاتونو نه پس زه او عاطر یوسفزے د هغه وخت د ادبي کاروانونو دوه همغاړي ملګري شو. د ادبي سفر دغې ملګرتیا روسته د یوې داسې ذاتي دوستۍ شکل اختیار کړو. چې تر ننه پورې قائم ده. او د حیرانتیا خبره دا ده. چې په دې دومره ډېره موده کښې لا تر اوسه پورې زما او د عاطر یوسفزي ترمنځه څه ګیله مانه قدرې هم نه ده راغلې. زه دې بې غرضه او پایداري دوستۍ سهره د عاطر یوسفزي صیب په سر تړم.

عاطر یوسفزے د مینې، اخلاص، صداقت، حوصلې او زغم د خمبیر نه جوړ شوے هغه خوږمن او عظیم انسان دے. چې زه ئې په لفظونو کښې په صحیح ډول نه شم بیانولے. رښتیا خبره ده. چې کله کله انسان ته خپل احساسات هم په صحیح توګه بیانول ډېر ګران شي. او هغه حال نن زما دے. څوک چې عاطر یوسفزے نه پېژني. نو حق لري چې زما حقیقت بیانۍ ته د مبالغې او شک په نظر اوګوري. خو څوک چې ورسره پېژند ګلو لري. نو بایده چې راسره سل په سله اتفاق ولري.

PUKHTO.NET

لکه څه رنګ چې ما مخکښې لیکلي دي۔ چې عاطر یوسفزے زمانه نه پوازې په عمر مشر دے۔ بلکه ادبي سفراؤ پوهه ئې هم زمانه زیاته ده۔ خو نه پوهېږم چې په ما کښې کوم د سرخاب پر لګېدلے دے۔ چې عاطر صیب په ما د ځانه هم زیات اعتماد کوي۔ اؤ د عقیدت ترحده پورې را سره مینه لري۔ دا خبره مې په دې حواله اوکړه چې عاطر صیب کله هم نوے غزل یا نظم اولیکي۔ نو تر هغې ئې په کاپۍ کښې نه لیکي۔ اؤ نه ئې په ادبي غونډه کښې اوروي۔ تر څو چې ئې ماته نه وي اورولے۔

کله کله په ځان پورې خندا اؤ په عاطر یوسفزي باندې بې اختیاره مینه راشي۔ ځکه چې کله راته هم خپل نوے غزل یا نظم اوروي۔ نو مخکښې ترې خواه مخواه وائي! "خوږه! نوے کلام درته اوروم۔ په غور ئې واوره اؤ که څه غلطي پکښې وي۔ نو راته ئې په ګوته کړه۔"

خندا په دې راشي چې د ایلې بچو ته د غوېو چلونه څنګه اوښایم۔ اؤ مینه مې پرې ځکه راشي۔ چې د هغوئ مینه اؤ اعتماد راته لکه د بې ګناه اؤ پاکو ماشومانو په څېر اودرېږي۔

زه پوهېږم چې زما په تائید یا تنقید د هغوئ نره هغه وخت څومره غټې شي۔ خو په دې راز لا تر

اوسه پوهه نه یم. چې اُستاذ څه رنګ د شاګردنه
د خپل لیک د غلط یا صحیح تصدیق کوي.

تاسو ته به د بره لیکلې شوو ماتو ګوډو فقرونه
د عاطر یوسفزي د شخصیت او عظمت څه نا څه پته
لګېدلې وي. هسې خو زما زړه غواړي. چې د عاطر صیب
د اوږدې ملګرتیا د پل پل حالات بنه په خلاص مټ
اولیکم. خو د کتاب مخصوصې پاڼې او لنډ تنګ وخت مې
خپلې خوښې ته نه پرېږدي.

غواړم چې د خپلې کم علمۍ او ناپوهۍ باوجود د
عاطر یوسفزي صیب په شاعرۍ هم څه نا څه بحث
اوکړے شم. هسې خو زما د پاره د هغوئ په فن بحث
کول داسې دي. لکه چې نمر ته ډیوه نیسم. خو څه
اوکړم. هغوي ما د خپل دروند نظر په درنه تله تلې.
څوک ئې قایل کړي چې د هغوئ فن او شخصیت دواړه
زما د پوهې او فکر نه ډیر لوړ دي. بهر حال د هغوئ
حکم په سر سترګو. څه نا څه خو به لیکم. هن ادي
نه مخکښې چې د هغوئ په شاعرۍ د بحث کولو پیل
اوکړم. دا خبره سپینه ول غواړم. چې عاطر صیب په
کال ۱۹۸۱ء کښې د روزګار په سلسله کښې ریاض (سعودي
عرب) ته راغلے. او دغسې زمونږ د ادبي هلو ځلو نه
ډېرې ته پاتې شو. کله چې زۀ هم لکه د عاطر صیب

PUKHTO.NET

دَ روزګار په سلسله کښې (سعودي عرب) ته په کال ۱۹۹۰ء کښې راغلم ـ نو هغه وخت په رياض کښې دَ نن صبا په شان دومره ژباړې ادبي هلې ځلې نهٔ وې ـ دَ عربستان پښتو ادبي تړون په نوم يو تنظيم وو ـ چې دَ هغې په قافله کښې مې خپل ادبي سفر شروع کړو ـ او عاطر صيب مې هم دَ ځان ملګرے کړو ـ تر دغه وخته پورې عاطر صيب دلته هم دَ ادبي هلو ځلو نه ډېر ته پاتې شوے وو ـ له دې وجوهاتو له کبله عاطر صيب هغه هومره ادبي سفر نهٔ دے کړے ـ کوم چې ورله پکار وو ـ ددغې جمود اثر دَ هغوئ په شاعرۍ شته دے ـ زياته شاعري ئې دَ تېر دور ده ـ نو بايد چې دَ نوي دور دَ تقاضو خيال پکښې نهٔ وي ساتلے شوے ـ خو هغه دَ چا خبره "که غوښه اوسوزي نو دَ بېتې نه بيا هم ښهٔ وي"

فن پخپله هغه رڼه هنداره وي چې دَ فنکار فطري او فکري جوړښت پکښې ليدے کېږي ـ راځئ چې دَ عاطر صيب دَ فن په هنداره کښې دَ هغوي دَ فکر ننداره اوکړو ـ

عاطر يو سفرے وطن دوست په قام مئين او خوږمن انسان دے ـ دَ هر چا دپاره مينه غواړي ـ ځان ځانې نهٔ مني او دَ نفرت نه نفرت کوي ـ دَ هغوئ يو څو شعرونه رانقل کوم ـ لکه چې وائي:

PUKHTO.NET

ــــــ خان بادري دې تالې سپي کوي
خو دَ سرونو دې سودا نهٔ کوي

عاطرصيب دَ هرچا ناز په ځان وړي - خو اخر انسان دے . او په سينه کښې دَ غوښې زړهٔ لري - کله کله دَ ښکلونه مرور غونډې شي - خو دَ هغه دَ مرورتوب اظهار هم دَ هغه په شان د ږمينه ناک او جدا رنګ لري په دې حقله ئې يو شعر رانقل کوم .

ــــــ زهٔ به خادر په اوږه واچوم ترينه
ښکلي دې راوړي دَ دوکانه زړګے

عاطر صيب دَ سادګۍ حد کوي . خلق دَ غلونه ځان ساتي او عاطر صيب ورته ځان په زور غلے ته کوي . خو دومره ساده هم نهٔ دے - دَ زړونو غلو ته لارې ښائي هغوئ په خپله وائي ؛

پرون ئې غلا په رڼا ورځ اوکړه زما دَ زړګي
نن ورته ناست په لويه لار يم هغه غل نهٔ راځي

عاطرصيب يو ښهٔ ملګرے ، ښهٔ شاعر هم دے . او په تېره تېره نر پښتون هم - څومره ننګ او غېرت لري - لکه چې وائي ؛

عاطر او وتو په کلي کښې دَ سترګو غړولو
دَ غېرت او دَ حيا نه چې لمنه پوره ته کېږي

عاطرصيب دَ زړهٔ خبره په خُله غواړي - غېله هم په بوسو

کښې اوبه نه بوځي ۔ اوغواړي چې د هرچا د زړه او خلې
خبره دې یوه وي ۔ ځکه خو وائي :

د زړه خبرې به په ډاکه کوو
هر خبره زمونږ سینه لکي

عاطر صيب لکه د حمزه بابا، خاطر افريدي او خبير افريدي د پښتونخواه د نوي کول د زلمي او نوموړي شاعر (د چا شاعري چې د وخت نه ډېره مخکښې پېغلتوب ته رسېدلې ده ۔) او په ادبي دنیا کښې د اباسین یوسفزي په نوم پېژندے شي ۔ د دغه ځلاند ستورې نه هم متأثره ښکاري ۔ څومره په ښه شان د حقیقت نه پلو پورته کوي ۔ او وائي :

اباسینه یاره ټول کوته په خله دي
پښتونخوا کښې عجیبه شانې غورځنګ کړي

عاطر صيب سوچه پښتون او په خپله مورنۍ ژبه سر ورکولو ته تیار دے ۔ کله چې څوک پښتون بې پښتو کار اوکړي نو دغه وخت دومره خفه او بې قابو شي چې خودکشۍ ته تیار شي ۔ او اووائي :

وس مې په چا نه رسي په ځان تیل اړولے شم
ځنې پښتنو چې د پښتو ناوې بربنډه کړه

عاطر صيب پردے غم خپل کښي ۔ د هرچا په درد دردېږي خو دومره ساده دے ۔ چې د نننۍ زمانې د خلقو نه هم

PUKHTO.NET

دغه توقع ساتي . او لکه ځان په شان ئې کښې - خو کله چې د خپل محبوب د رخصتېدو په وخت اووینې. چې ورسره په دغه قیامت خېزه لمحو کښې هم څوک خوا خوږي اونکړي . نو ګیله من شي - او اووایي ؛

د کاڼو جوړ د انسانانو دي دور زړونه
خدایه شته ذره که خوږېدل تا چې رخصت اختو

عاطر صیب خود داره او باضمیره انسان دے - د وخت سره د بې ضمیرو په ټولي کښې تله نه غواړي . کله کله خو ئې دغه تصور هم وارخطا کړي - او وائي ؛

چې ضمیر یکښې خرڅېږي په اسانه
دې حالاتو سره تلل په څنګه وي

عاطر صیب د مینې ډک زړه لري- خپل محبوب ته د راتلو بلنه څومره په ښکلي انداز ورکوي - د پښتني روایاتو، میلمه روستیا اظهار څومره په خوږه او پسته ژبه کوي - لکه چې وائي ؛

په هر لوري به رېدے شم ته زمونږ کلي ته راشه
لکه خوربه پسرلے شم ته زمونږ کلي ته راشه

عاطر یوسفزي لکه د رحمن بابا د مکافات عمل پوره فلسفه څومره په ښه رول په یو وړوکي شان شعر کښې په تفصیل بیان کړي ده - او ورسره ورسره په دغه یو شعر کښې د صبر په ارزښ هم رڼا اچوي .او وائي ؛

RUKHTO.NET

کوي دي ظلم په عاطر یوسفزي ـــه
خنګ د ازاره به بازار اوښيي

عاطر صیب خود داري هم لري - او د حلالو ، حرامو
تمیز هم . په خپله برخه قناعت هم کوي . او د چاشان
و شوکت ته زهیر بېږي هم نه - ځکه خو وائي : ـــه

ستا په بنګلو یاندي يې نه درکوو
زموږ د خاورو ختو جوړ کوړونه

عاطر صیب د ډېرې مودې راسې سمندر پورې مسافري
کوي . خپل ، خپلوان ، کورکلي او وطن چې يې په زړه
را اوربړي - نو د ځان سره د نورو مسافرو
ترجماني هم کوي - په دي حقله يې د یو غزل دوه شعرونه
رانقل کوم . ـــه

منه دلته کښې هر څه شته په څه کم خو ته يو
په وچ سوکړک سینوشوملو سې رانده غوندي شو

دا د سماج د ناکړدو دلاسه ښکلي ځوانان
دلته کښې هم په مزدورو سې رانده غوندي شو

د عاطر صیب په کوم کوم شعر به بحث کووم . په اخر
کښې به صرف دومره قدري اووایم چې د عاطر صیب په
کلام کښې د ژوند د هر اړخ فلسفه ، د معاشرې د
تودو سړو منظر کشي ، د پښتو پښتونولۍ ، ننګ

PUKHTO.NET

او پټ قيصې، د ظلم غندنه او مظلومانو مرسته، د صبر، حوصلې سيمقونه او پښتنې متلونه هم موندے شي او ورپکښې د ځان او جانان په زړه پورې خبرې. د راز او نياز ګنګوسې، د ښکلاګانو ننداره، د ځوانو جذبو غورځنګونه، د اوسېدنو حوصلو او لوړو ارادو عکسونه هم ليدے شي. ژبه ئې اسانه، پسته خوږه او روانه ده. خو بيا هم زه هيڅکله دا دعوىٰ نه کووم چې د عاطر صيب کتاب بيخي د هر قسمه کمي او خطاګانو نه پاک دے ځکه چې انسان او خطاګانې لازم او ملزوم دي. هم دغسې په انساني تخليق کښې خواه مخواه څه ناڅه کمے وي. انسان د خطاګانو نه بغير نه شي کېدے او انساني تخليق د کمي نه بغير ممکن نه دے.

عاطر صيب انسان دے. د هغوئ په کتاب کښې هم ځائے په ځائے ادبي کموتې او فني خطاګانې ليدے شي. خو دومره کمي لکه په اوړو کښې مالګه. په دغه هومره بې ضرره او ورو خطاګانو څوک ګرمول مناسب نه ګنم.

زما په نظر کښې د عاطر صيب دا کتاب (ليتکي) په مجموعي ډول معياري، زړه راښکونکے او په تول پوره دے. د پښتو ادب په پنګه کښې ګټه وره اضافه ده. د پښتنې روايانو، ثقافت او تهذيب قيمتي فن پاره ئې

PUKHTO.NET

بولم. او دُعا کووم چې الله پاک دې د عاطر صيب فکر
ددې نه زيات روښانه او قلم نور ګړندے کړي. چې د
پښتو ادب څولۍ ته وخت په وخت دغسې دَخپلې مينې
ډالۍ پيرزو کوي

امين ثم امين

نعيم راهي

صدر

پښتو ادبي غورځنګ رياض

۲۰۰۳/۹/۱۸ء

PUKHTO.NET

# ناشناسي

هسې خو زما او د عاطر یوسفزي پېژند ګلو او ملګرتیا د ۱۹۷۲ رنه ده چې زه غالباً په اتم جماعت کښې ووم - دغه وخت د ملاکنډ ادبي میدان ته د بر زلمي شاعران راوتي وو. چې د پښتو د ناوې په اوربل کښې ئې د فکر ګلان ټومبل. دغه زلمو کښې یو فعال او کړندے زلمے عاطر یوسفزے هم وو.

هغه وخت کښې به ما اکثر لیدل چې د خبر د سیمې شاعران او د نورو سیمو شاعران به د عاطر سره د شپې نیمې په غرض پاتې کېدل. په دې بناغلو کښې خدائے بخښلے خیبر افریدے، عبدالستار عارف ختک او داسې نور شعراء ملګرې وو چې عاطر به ورسره خپله رابطه ساتله.

شروع کښې عاطر صیب د "ملاکنډ پښتو ادبي ټولنه" غړے وو. بیا دا ټولنه په دوو ټولنو کښې تقسیم شوه. چې په بیا خپله کښې ترې "پښتانهٔ ادبي ملګرې" ځانله یوه ادبي ټولنه په وجود کښې راغله چې

عاطر دَ هغې دَ کابينې غړے وو ۔ اؤ زما روحاني استاد خدائے بخښلے حضرت عبدالحکيم قادري بابا دَ هغې سرپرست اعلیٰ وو ۔

عاطر صيب دَ درېوېشت کلونو راسې په سعودي عرب کښې په مسافرۍ دے ۔ ولې عاطر اؤ دَ هغو ملګرو چې کوم زړے دَ ملاکنډ په سپرلي خپره زمکه کړلے وو ۔ نن ئې تېغې دَ "پام" په رنګ په دې سيمه رازرغون شوې دي ۔ بيا دا ټولنه هم تقسيم شوه ۔ خو دېر په تفصيل کښې نۀ ځم ۔ زما خو صرف دَ عاطر دَ ادبي سرګرمو سره په دې سرخط کښې غرض دے ۔

هن دَ عاطر صيب اؤ جمعه رحمٰن افګار په کوشش چې په هم دغه اوان هغوي "شاهين ډرامه کلب" جوړ کړے وو ۔ چې ستيج ډرامو له ئې هغه وخت کښې رواج ورکړے وو ۔ عاطر او جمعه رحمٰن افګار دَ هغې ډراموليکونکي وو ۔ اؤ په خپله به ئې په ستيج اداکاري هم کښې کوله ۔ دعاطر صيب شعري ادبي مضامين به اکثر په "کاروان" "اباسين" اؤ "جمهور اسلام" کښې شائع کېدل ۔ بله دا يوه خبره کول ضروري ګڼم چې په ما دَ عاطر نه دَ شعر و شاعرۍ اثر اوشو ۔ اؤ ما هم څۀ نه څۀ دَ ادب سره تړون تر ننه پورې ساتلے دے ۔ دا اسباب وو چې عاطر ئې په پرديس کښې چيچو اؤ سکونډو چې هغه دَ سعودي په زمکه دَ

PUKHTO.NET

روزي کتهولو سره په شعر ليکلو مجبوره وو۔ ځکه چي شعر دَ شعور اواز دے۔ اوُ دَ شاعر په ژوندي ضمير چي دَ چاپيره چل دَ حوادثو کوم اثرات کيږي۔ نو دَ هغي اثرات دَ شاعر په شاعري کښي دَ لفظونو په ژبه دَ خپل توان مطابق نقش وي۔

نو دلګيري، دلداري اوُ دلبري عاطر ځهٔ په ډيره ساده لب و لهجه اوُ اسانه روانه پښتو کښي دَ "ليټکو" په شکل دَ خپل زوي خيام يوسفزي په نوم کړي ده۔ اوُ دَ ملاکنډ په سيمه يُ دَ ادب خوږي جولۍ ته دَ ګلونو ګلدسته ورکړي چي دا ددي سيمي په عاطر حق وو۔ چي پوره کوي يُ۔

وخته تهٔ زمانه ځواني چرته وړي
بيا مي له نظره سپرلي چرته وړي
يو نهٔ دے عاطر چي کاريُ ختم کړي
تهٔ به دَ وطن يوسفزي چرته وړي

په ډيره مينه

فضل عليم اجنبي

نيټه ۲۰۰۳/۶/۲۵ء

ستا په در کښې لويه خدايه څه کم نشته
خو يقين زمونږ په تا باندې سم نشته

که مونګ دا ستا په لور باندې اختيار کړو
نېغه لاره ده هيڅکله څه خم نشته

ستا په ياد کښې چې غمژنې شوې محفوظ شوې
خو افسوس زمونږ په سترګو کښې نم نشته

خدايه عفوه راته اوکړې ګنهګار يُم
بې له تا نه زما بل څوک صنم نشته

ګنهګار يم سياه کار يم خو تورن يُم
بس زړېږمه عاطره نور غم نشته

PUKHTO.NET

ھوا کانې د نفرت شوې خدایه خېر
ډلې ډلې په محلت شوې خدایه خېر

ورور د ورور نه مړه نوا شو یار له یاره
ډیوې مړې د محبت شوې خدایه خېر

پخپل ځان باندې پوهېږي په بل څه کړي
علامې جوړ د قیامت شوې خدایه خېر

د یو فرد خبره نه ده مطلبونه
قبیلې پکښې لټ پټ شوې خدایه خېر

زه عاطف لاس په دعا د خدای په دریم
چې قام ننګ د مصیبت شوې خدایه خېر

PUKHTO.NET

بې خنجره چې وژل کړه
ښکلي دا قتلونه تل کړه

د پېردۍ مورچې پېدا وي
داسې خلق به څوک خپل کړه

تش په نوم باندې اختروي
څوک خندل کړه څوک ژړل کړه

ځان ئې ستړے کړو په منډو
نادانانو کله شل کړه

PUKHTO.NET

ځان به زۀ ایرې کړم
تۀ د سترګو مې کجل کړه

چې په ښکلو مئینېږې
تل د سترګو به منزل کړه

کامراني به ئې نصیب وي
چې په لوئے الله توکل کړه

ورستو پاتې له منزل وي
خپل کارونه چې په بل کړه

محبت چې پکښې نۀ وي
نو عاطر به څۀ غزل کړه

PUKHTO.NET

* * *

شته دَ وختونو سره تلونکي خلق
يا په دارونو ورختونکي خلق

چې دې جامونه بې خودي راولي
پيدا به نکړې ورله ښيونکي خلق

درله به مات کړي دَ غرور ځانګونه
دا ستا په خيال اوبو راوړونکي خلق

دَ خلقو زړونو کښې کورونه جوړ کړي
دَ محبت په لاره تلونکي خلق

PUKHTO.NET

دَ مغربي سرتېزو نيت ګورمه
ما کړل راغونډ رېښتيا ويونکي خلق

عاطره خرڅ کړه قلم تا اوليدل
دا په بازار کښې خرڅېدونکي خلق

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

درد دَ زمانې تل په وړه سینه
ورمه ورمه په سړه سینه

خلق بدلوي دَ مخ رنګونه خپل
مونږ ورغاړه وځو په زړه سینه

اوس یکښې ژوندون تېرول ستا خوښه
ګل ګل چې اشنا مې درته کړه سینه

لرې تربګنې کړې پښتانهٔ یاران
کړې چې دوه یو بل سره جوړه سینه

ستا دَ کلي خالقو چراغان کول
ما چې ترې زخمي زخمي راوړه سينه

اونه اوځي اشنا يې دَ خيالونو نه
درده کله کله مې چيړه سينه

کم به شي عاطره دَ غزل په رنګ
اور دَ مينې کړه درله لګړه سينه

*

* * *

*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

ستا په هر لوظ یقیني ووم انتظار مې کوو
شرل پښتون ووم عجبي ووم انتظار مې کوو

دَ وخت ګردونو مې جوشه دَ مخ بدله کړله
لکه مثال دَ لیونی ووم انتظار مې کوو

ما وې یاران دې تهمت سزا به څهٔ اوروي
چې ستا په مینه کښې بندي ووم انتظار مې کوو

دَ خلقو رنګ لباسونه وو بلنې کېدې
زهٔ په دې کلي کښې سوالي ووم انتظار مې کوو

تا آئینه کښې دَ ضمیر به تماشه کړې وه
چې دَ مودو راسې ستې ووم انتظار مې کوو

شوې وارخطا اے ردي کوز کلي رقیبه په څهٔ
خالي لاسونه وو خالي ووم انتظار مې کوو

محبوبهٔ غزنې مې بکړو وېښتے شوم په کانړو عاطر
ستا دَ اُمت یو اُمتي ووم انتظار مې کوو

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

ما به له ځانه مرور کړې اشنا بښه نه کوې
تا ځ به رقيب ته ورپه سر کړې اشنا بښه نه کوې

زما د زړه ښکلي بازار کښې ته هر څه موندې شې
ژوند به دې هسې درپه در کړې اشنا بښه نه کوې

درته ايزده مې کړه پښتو په ځار قربان ښکليه
په نه خبره ولې شر کړې اشنا بښه نه کوې

تشو يادونو باندې څه کړم چې مې خوا کښې نه يې
راته ازغي بستر کړې اشنا بښه نه کوې

یم لیونے دَ پاکې مینې پاکه مینه غواړم
دنیا که ټوله مال و زر کړې اشنا بـه نهٔ کوې

عاطرؔ به څهٔ کوي اخر دَ ژوندانهٔ په پولو
چې تهٔ هر کار دَ ستمګر کړې اشنا به نهٔ کوې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

زړګے مې لمغسې درزا نه کوي
مينه چې ما سره اشنا نه کوي

دَ مېنانو عجيبه زړونه وي
چې جفاګانو ته ژړا نه کوي

ډيوې بلېږي دَ لمغوُئ په اوبو
زمونږ په تېلو هم رڼا نه کوي

خان بادرې دې تالې ستيُ کوي
خو دَ سرونو دې سودا نه کوي

PUKHTO.NET

مونږ میړنان که چرې یو شو ورته
بیا به رقیب داسې خندا نه کوي

راځئ چې ورکړو څو څپېړې په مخ
بیا به څوک بد د پښتونخوا نه کوي

زمونږ د کلي ښکلي ښکلي جونه
قدرتي ښکلې وي ښکلا نه کوي

خدایه چې تا وعده د رزق کړې
عاطس به غم بیا د سبا نه کوي

* * *

RUKHTO.NET

ستا چې دَ حيا په اننګو رنګونه پرېوتل
سم مې دَ زړهٔ په سر رنګين داغونه پرېوتل

مينه په مستۍ کښې شوه اُږوند له واکه اووتو
خدايږده چې په زړهٔ مې بيا دَ چا خيالونه پرېوتل

زهٔ دَ چا پېی مخې په باب دومره قدرې وېيلے شم
راغے هله راغے چې له ما نو تهونه پرېوتل

نور به لېونو نه تقاضا اشنا دَ څهٔ کوې
زړونه ئې درکړي په سجدو سرونه پرېوتل

ستا دَ ستم ښکار دے عاطش چرته غلا کښېږی اوس
څهٔ که په مزار ئې رنګا رنګ شالونه پرېوتل

PUKHTO.NET

کرمه په مزکه ږدي دَ بل بوټي
طمع نادانی ده چي دے خپل بوټي

ورخ مي دَ وينو ورته مات کړلو
شين شو اخر شين شو دَ غزل بوټي

ستا دي دَ غرور وزري ماتي شي
پاتي دي يو نهٔ کړو په کابل بوټي

زهٔ يمه پښتون له خپلي نهٔ اوړم
نور به درته کرُم په پل پل بوټي

PUKHTO.NET

ما درله اختیار د ګل درکړے وو
تا ظالمه ولې درد ستړے بوټے

هیڅ نه شي قدغن په یوسفزي عالمه
نهال به د پښتو کړي په ګوګل بوټے

PUKHTO.NET

ورځې مې اشنا په انکارونو اوځي
شپه تر سحره په خیالونو اوځي

نادان زړګے چې له حدونو اوځي
دَ ژوند له سختو ګذارونو اوځي

دَ زړهٔ خېره مې اشنا مهٔ پوښته
بې له تا ورځې په کلونو اوځي

دلته چې څوک نامه دَ مینې اخلي
هغه دَ وخت د زندانونو اوځي

دا غریبۍ مجبورۍ ده غنچه
بنکلي ځوانان مې له اورونو اوځي

PUKHTO.NET

زما خوبونه ئې تالا ترغه کړل
روح به مې څنګ له اندامونو اوځي

چا چې خوبونو له غاړې ورکړې
د هغوئ ژوند په تکلیفونو اوځي

اخلاص چې راشي محبت کښې کله
د مینې لارې تل په غرونو اوځي

په غېږه لو ستړګو ګورو ورته
چې جنازې د حسرتونو اوځي

د زړه د درد نغمې چې تل شوروي
عاطف به څنګ د چا له زړونو اوځي

* * *

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

اوښکې مې د سترګو نه دلبر پسې
څاڅې څاڅې اوس اکثر پسې

مینه مې غوښتله چې پرې پوهه شم
ماسبق ته شاګرد دې هنر پسې

چا کلي پرېښودي په آسانه دي
یا د یار د غمه یا په زر پسې

زغم د صبر ختم مې هجرت کړلو
سوچ کړم د وطن، اوتر اوتر پسې

زهٔ یقین دَ مستو سترګو یو ړمه
ګرځي مې نظر هغه نظر پسې

ستا یاد مې سکون نړی خوب ته مې نهٔ پرېږدی
ړوند په روغو سترګو شوم بستر پسې

پاڼې چې دَ ژوند دَ کتاب لولمه
ښهٔ وختونه لاړل راځي شر پسې

بد، بد زېږوي دَ ښو نه ښهٔ پېدا
څهٔ چې دي کړلي وي وړه کړ پسې

چل دَ مینې تهٔ عاطر ته مهٔ ښایه
کانې څوک نادانه وړی په غر پسې

* * *

PUKHTO.NET



PUKHTO.NET

تو روه سترګي په رنجو کښي ښه دي
وله بي واره مي ویشتو کښي ښه دي

راغلي اختره خو ستا رنګ نه خېږي
سبوا له غمه دي کوڅو کښي ښه دي

پکښي یادونه دي ګندران نه کوي
د غوښي غوښي زړه ټوټو کښي ښه دي

خیر که سینه مي پرې سورې سورې شي
ګودرم چې ستا په مړو کتو کښي ښه دي

خاندي ښارنه کوي روغ وګړي
ګوري چې مونږه لېونو کښې څه دي

شو ورور له وروره نه وېزار عاطره
پاتې دَ وينو په رشتو کښې څه دي

عاطره هسې پرې زړهٔ مهٔ شين کوه
مرهٔ ضمير ونه دې ژوندو کښې څه دي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

خلق که تېر وځي په نا اشنا خلقو
زړه ولې غلط شوې په اشنا خلقو

دا خو اشنا ته ځي په زړه پورې مې
څه که دُنیا وکه په دُنیا خلقو

تلي خلق اوس دَ غبساني شولو
وخت به تېر وو چې په خندا خلقو

مینه دَ دروغو نه مې پاکه وه
پورې کړه دروغ چې ناروا خلقو

زۀ دَ مادیّت دور کښې ژوند کووم
مینه شوه پیسه دَ نن سبا خلقو

بیا به دې غزل عاطره ښکلے شي
ذوق دَ موسیقۍ که کړو پیدا خلقو

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

زما روغه خبره تاته نهٔ وائي
ستا دَ خولې خبره ماته نهٔ وائي

دور داسې دور دے راز پټ ساته
څوک دَ زړهٔ خبره چاته نهٔ وائي

دا دَ پښتنو خصلت کښې نهٔ وینم
مخامخ وېنا کړي شاته نهٔ وائي

ستا دَ ظلم زور قِصې ئې ژوند شولو
اوښکې په مخ راشي راته نهٔ وائي

ړوند شي کړو کور شي سر سيڼ شي هم
چرته ملامت بسکلا ته نهٔ وائي

تا په زړه ورځ عاطر د موکه کړلو
اوس به دې وفا ته نهٔ وائي

PUKHTO.NET

*
* * *
*

محبت دې اشنا زۀ له کاره ويستم [۱]
لکه ګل ئې په سينه له تاره ويستم

اوس نامه به دې ژوندۍ وي تر قيامته
مينې ستا چې د مجنون په لاره ويستم

په ژړا او انګولا به مې موندې نۀ کړې
که سپين مخ دې د ژوندون له باره ويستم

ارادې مې لا بېخي شوې ژوندانۀ کښې
وخت نامرد که زۀ د سخت ګذاره ويستم

۱ وويستم

PUKHTO.NET

چې د بدو نظرونو په امان شي
شوم لوګے مې ئې له خپله ننداره ویستم

چې دې تل ښکلې سینه باندې ځانګېږم
که سره زر ئې په څو ځل له ناره ویستم

د عاشق په خوب او خیال کښې نه راتلله
رقیبانو په چل چل له داره ویستم

ښتو وژړل چې بیا مې تپوس نشته
که عاشق ته تا له خپل افکاره ویستم

* * *

PUKHTO.NET

اوس خپل پردي مې د خپل چم ما پورې ټوقې کوي
تا چې مخ وار ووصنم ما پورې ټوقې کوي

چې دې لوظونه دَ وفا راسره وُنه پالل
خود به بې لوظه ټول عالم ما پورې ټوقې کوي

کله ترې اخلمه نور دې کلي کښې څهٔ کومه
زما احساس ملګرو سم ما پورې ټوقې کوي

دَ خیټې غم دے محبت ته او زکار بزمه نه
یاره ستامینه به منم ما پورې ټوقې کوي

که دې بېدار پرې او دهٔ قام چرې عاطرهٔ نهٔ کړو
بیا به نهٔ وائي چې قلم ما پورې ټوقې کوي

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

اغیار که هر څو ستړې ورانې کړلې
مونږ دَ جانان کوڅې ودانې کړلې

دَ ژوند له هر ډګره اووَتمه
ګرانې قِصې وې خدائے اسانې کړلې

چا چې یَو ویشتې دَ تهمت په کانو
هغوئ ته مونږه دُعاګانې کړلې

دَ یار کوڅه کښې اوس خفه چې نهٔ شې
تا ئې زړګیه ارزوګانې کړلې

خپلې پښتو ته دې پښتونه قامه
دا قبیلې ټولې حیرانې کړلې

ګران ئې په لیک ته دَپښتو غزله
تا دَ عاشق حوصلې ځوانې کړلې

*
* * *
*

PUKHTO.NET

نن دَ یارانو دَ حجرو خبرې
په زړهٔ وریږي دَ مودو خبرې

دغه دنیا دغه دستور دے پکښې
چا یسي نهٔ وي؟ په کوڅو خبرې

راځه اشنا چې دَ رقیب نه لرې
اوکړو دَ مینې دکې څو خبرې

پرېږده چې مر دې په کوڅه کښې شمه
مانه خو نهٔ کیږي دَ تلو خبرې

PUKHTO.NET

خوند کړي اشنا چې څ تر مخه اوشي
شا په شا نهٔ وي دَ پښتو خبرې

دَ زړګي حال که مې معلوم شو درته
بیا به تهٔ نهٔ کړې دَ وړو خبرې

عاطره عقل مې حیران شي درته
څنګه کوې تهٔ په لمبو خبرې

PUKHTO.NET

*

* * *

*

لاړم ساقي ګورې ایسار نهٔ یمه
تندې اخستې یم په دار نهٔ یمه

په کانو ګمه دیدن له درځم
نهٔ د ګلونو په ګندار نهٔ یمه

سنګر له ځمه د پښتو په خاطر
دیدن به بیا کړمه اوزګار نهٔ یمه

پښتو کوم ته پښتو نهٔ پېژنې
ستا په خیالونو کښې په لار نهٔ یمه

سپک راته مهٔ ګوره مغروره اشنا
پښتو جامه لرمه خوار نهٔ یمه

PUKHTO.NET

لاس مې په لاس کېږده څوګند پورته کړه
دَ تشې زړې په اقرار نهٔ یمه

عقل مې شته دے هم شعور لرمه
لکه څاروے خرڅ په بازار نهٔ یمه

په اسنکو چې دې خاپونه جوړ کړم
په تش دیدن په تش دیدار نهٔ یمه

دینې مې رنګ دَ لېونتیا واخستو
لکه مجنون په ګرد غبار نهٔ یمه

ګناه زما وه چې په تا تېر وتم
زړهٔ ته په قار تا ته په قار نهٔ یمه

عاطره څنګه به منزل ته رسم
لا څو منصور په سر دَ دار نهٔ یمه

* * *

PUKHTO.NET

تۀ به مې اوچوې له خفګانه زړګے
څنګ به راستون شي ستا له خوانه زړګے

تېر شولو وخت اوس په لاس هېڅ نۀ راځي
ما خو لوګے کړو له جهانه زړګے

زۀ به څادر په اوږه کښېږدم ترینه
ښکلي دي راوړي له دوکانه زړګے

اثر دَ مینې مې معلوم شو راته
اوس دې خبرې کړي له ځانه زړګے

PUKHTO.NET

چې په دارو درملو نهٔ جوړیږي
تل وي خفه مې بې لتانه زړګے

دا ښکلي هیڅکله په لار به نشي
که درله راوړم له اسمانه زړګے

دَ خپل اختیار خبره نهٔ وی ګني
چا لګولے په اسانه زړګے

محبت ورک شو فریبونه ډیر شو
ځکه مې مور شو دَ دنیا نه زړګے

ګلې عاشق یمه لږ سوچ پرې اوکړه
هسې نه بیا دې شي پښیمانه زړګے

* * *

PUKHTO.NET

دا ستا دَ مینې دَ اوږدو لرو منزل نهٔ راځي
ستړے شوم دومره پکښې یاره دَ تلوچل نهٔ راځي

ښې مې تمناګې کړې په تا پسې کوڅه په کوڅه
دَ ژوند په لاره ستا ډېرې دَ غښې پل نهٔ راځي

پرون یې غلا په رڼا ورځ اوکړه زما دَ زړګې
نن ورته ناست په لویه لاریم هغه غل نهٔ راځي

یو خوا دَ خوار غریب سوچونه بل دَ یار مینه مې
څهٔ عجیبه شان معمه ده اوس یې حل نهٔ راځي

PUKHTO.NET

ماستا دَ مينې څومره ګران امتحانونه پاس کړه
نصيب کوټه شولو زما ، چرته اول نهٔ راځي

وخت دَ حالاتو په قلزم کښې غورځولے يمه
وړې مې په مخه ځو په لاس دَ چا منګول نهٔ راځي

شو چې پوهه دَ پښتون ښځې عاطره ورته
سترګې ئې ويستې له اغيارو په کابل نهٔ راځي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

کاش چې په زړهٔ کښې د اشنا مینه وے
له حده زیاته به زما مینه وے

د ژوند له کلي کوڅو تللي خفه
راغلي بېرته په خندا مینه وے

هره لمحه به د ژوندون ښکلې وے
که زمونږ زړونو کښې رښتیا مینه وے

ما به د مینې نوم اخستے نهٔ وُ
که یو مذهب کښې ناروا مینه وے

PUKHTO.NET

کهٔ مخامخ راته یار هم څهٔ وائي
خوږې په زړهٔ ئې پښې شا مینه وے

دَ درد له زوره به خبر هله وي
دَ عاطش مینه که درستا مینه وے

*

* * *

*

PUKHTO.NET

څه په هنر باندې اوروڼه شیندي
چې په نظم باندې اوروڼه شیندي

خومره نادان دے ورته بیه نشته
چې په خبر باندې اوروڼه شیندي

دا قاتلانې او بې رحمه سترګې
په هر ډګر باندې اوروڼه شیندي

پېغلې به څنګه شي راغونډې ورته
خلق ګودر باندې اوروڼه شیندي

لمبې لمبې به ترې یو ځل پورته شي
په مازیګر باندې اوروڼه شیندي

PUKHTO.NET

زما دَ خيال مارغهٔ موندلے نهٔ شي
ياران چې غر باندې اورونه شيندي

پښتونه پرېږده دَ پالنګ نوېونه
ستا په سحر باندې اورونه شيندي

ما داسې ښکلي سترګې هم اوليدې
دَ زړهٔ په سر باندې اورونه شيندي

ستا دَ يادونو مخ نيوے نهٔ کېږي
چې مې بستر باندې اورونه شيندي

عاطرؔ په کوته کړل زړهٔ توري خلق
چې په در در باندې اورونه شيندي

* * *

PUKHTO.NET

جنازه د احساسونو له وطنه پورته کېږي
ورته ګورم غرغنډې مې له بدنه پورته کېږي

د ظلمونو انتها پکښې رقیب ده جوړه کړې
کړې کړې د خوارانو اوس د څه نه پورته کېږي

بلبلان ترېنه ملګرو چې خفه خفه روان شول
تور لوګي دي سرې لمبې چې له چمنه پورته کېږي

د ښودو نه دے زړګے مې کښې ما به وې ښودلے
بس لمبې لمبې یارانو ترې دننه پورته کېږي

عاطر اودوتو په کلي کښې له سترګو غړولو
د غیرت او د حیا نه چې لمنه پورته کېږي

زما دَ زړهٔ په کور کښې یاره ستا زړې سترګې دي
تهٔ راته وایه ستا دَچا په لور کږې سترګې دي

مونږ مشالونه ګټ په ګټ لاړو کوڅو کښې بل کړهٔ
ګران میلمانهٔ وي پښتنو ته میلمنې سترګې دي

تهٔ لګوه دې قدغنونه چې اغیار پاتې شي
وږې به نهٔ شي دا دَ اصله نه مړې سترګې دي

هسې نه ګلې له نظره شي ناجوړه به شي
پټې کړه ښکلې ساته دَ خلقو تاپسې سترګې دي

PUKHTO.NET

رقیب په ما ملامت وائي زهٔ رقیب ته اشنا
لرمه سترګې پښتنې دَ هغه ښځې سترګې دي

زما یقین ته نهٔ پرېوځي پښتنه خاوره ځي
خرڅیدې نهٔ شي په هڅې جوړستا پښتنې سترګې دي

عاطره لاړې دَ ژوندون له چارو اووتلې
"څومره خونخوارې قاتلانې دَ یارمړې سترګې دي"

*

* * *

*

PUKHTO.NET

سپینه وړنا ډېره سنګینه لګي
چې شي صفا څومره شیرینه لګي

د زړه خبرې به په ډاګه کوو
لهره خبره زما سپینه لګي

موږ قایل نه یو د سرخې پوډرو
غرنیزه پېغله به حسینه لګي

هر ځاے چې وي موږه پرې فخر کوو
پاکه سپېځلې زموږ مینه لګي

PUKHTO.NET

زړهٔ خوشحالوُ په کاغـذي ګلـونو
چې خوا و شـا مو ګل وریـنه لګي

وختا دَ شیـندلو دےخوږو ملګرو
له حبوشـه ډکه مو سرهٔ وینه لګي

عاطره غښ دَ انقلاب پورته کړه
که فاصله څـس دے ترچینه لګي

*
* * *
*

PUKHTO.NET

درد ئې راواخلې تر کوڅې درشمه
دَ ورځې نه دَ تورې شپې درشمه

دومره نادانه زما مینه نهٔ ده
پټ به له خلقو په چنې درشمه

چې ستا غړې پرې هسکه کېږي اشنا
اوښکې دَ سترګو به جړګې درشمه

په انتظار کښې به دې نهٔ ساتمه
خوند به وي دا چې بې نېټې درشمه

PUKHTO.NET

ګورم چې تنده ماتوي اوُ کنه
چې اباسين چيپې چيپې درشمه

دَ ملنګانو ياره سل لارې دي
وايه په دغې که په دې درشمه

که مې اغيار ستا په کوڅه اوليدو
لکه دَ اوُر به سرې لمبې درشمه

عاطره خوند به دَ اخترو څهٔ وي
خواله چې مخکښې له رُوژې درشمه

PUKHTO.NET

* * *

ډېرې خبرې نهٔ يوه خبره
اوکړه اشنا راته دَ زړهٔ خبره

په ما دې کلې ټول خبر کړو اشنا
کړې وه ما څومره وړه خبره

دَ درد خبرې ماته زرزارسي
نهٔ کوې څوک راته خوږه خبره

پام ترې زما په بله مه اړوه
زما خبره هم زړهٔ خبره

PUKHTO.NET

چې وي مالدار که وائي ګوړې وړې
د غریب نهٔ اوري څوک بهٔ خبره

د محبت نهٔ دے نوځهٔ دي اشنا
چې ستا په زړهٔ زما په خوله خبره

بیا به ګیلې خلق عاطره کوي
مهٔ کوه هیڅکله ترخه خبره

*

* * *

*

PUKHTO.NET

خدائے دې رانهٔ ولې داسې په چا شپه
څنګ په ګرانه چې تېرېږي په ما شپه

ستا يادونه مې دَ وړاندې کېږي
په شوګير شوګير اشنا شوه سبا شپه

ما په هرګز اجازت نهٔ وے درکړے
که خبر وے چې جوړېږي بلا شپه

تهٔ تل خانده دَ همزولو سره ګلې
خبر که تېره شي په ما په ژړا شپه

PUKHTO.NET

ستا زړګے راته دَ غوږونو نهٔ ښکاریږي
څنګه تېره بې زما شي په تا شپه

دَ غزل ليکل عاطرؔ دَ ځانه نهٔ کړي
خوږې راشي پرې ملګرو تنها شپه

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

که قیصې دې راته ستړګو کښې هر رنګ کړې
په رباب د محبت کښې مې په ترنګ کړې

خوې کوه د پښتونوالې چې دروند ښکارې
په دې نه چې به نقلونه د فرنګ کړې

توله شپه مې بیدارې باندې سبا شې
ته چې خوا کښې راته جوړ د بنګړو شرنګ کړې

د ورې ژبې دې ځار شمه نازبینې
په ملنګ باندې به څه وایه قلنګ کړې

ابا سینه یاران تول کوته په خوله دي
پښتو ښځو اخوا کښې عجیبه شانتې غور ځنګ کړې

د زړه سر که دې هم وي چې وخت ئې راشي
انبارونه پرې د خاورو ځلے درنګ کړې

ډیره ښه ئې معتبره د هر څه نه
درېسي وي تاپسې چې چرته شرنګ کړې

چغې جوړې شوې د کلي په کوڅو کښې
چې عاطر د یار په مینه جامې رنګ کړې

په ژوندني ئې موندل عاطره ګران دي
هیڅ بې هڅه به د ښکلو په سر ننګ کړې

* * *

PUKHTO.NET

یا په رقیب یا په جانان جوړوي
دَ غم سندرې شاعران جوړوي

بیا به تالا کړي دَ چا خواره خونه
ځان تندرونو ته اسمان جوړوي

سپرلے په کملو لا راغلے نهٔ دے
سپېره بادونه چې خزان جوړوي

زمونږ دَ سوړ صبر ازمېښت مهٔ کوه
چې حد ئې ختم شي طوفان جوړوي

دَ چا چې طمع له خپل ځانه اوشي
په نهٔ خبره به خفګان جوړوي

پکښې لاهو به شي شيبو کښې اشنا
اوښکې مې سترګو نه باران جوړوي

څنګ به رڼا شي دا تيارې دَ ژوندون
زمونږ قانون غټان جوړوي

تل يې دَ خپل ضمير له تاوه ليکي
نهٔ چې عاطش به ترې ديوان جوړوي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

تا زما یار ته کتلي دي کنه
مړاوې سترګې دې لیدلي دي کنه

دا ځې زۀ لیونے ګرځے یم یواځې
رښتیا وایه چې دا ښکلي دي کنه

پښتو هسې ګیله منه له چا نۀ ده
تا پرې وایه څۀ لیکلي دي کنه

ته د خدائے د پاره اووایه دلبره
ما په تا هر څۀ بائلي دي کنه

PUKHTO.NET

ما شوګیر کړې دَ فراق شپې تر سحره
داسې شپې په تاراغلي دي کنه

تش په خوله دَ یار موندل نهٔ شي عاطره
پسې وایه پښې دې شلې دي کنه

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

راته په شونډو دې مسکا اوخته
ګلې د زړه نه مې دُعا اوخته

تاته آسانه وه په مړاوُ کتل
زما د هر اندامه ساه اوخته

وه جنازه د حسرتونو زما
په اوږو پورته چې اشنا اوخته

ګیلې ګیلې وې د یو بله کېدې
راباندې ستر ګه د سبا اوخته

ددې سبا ته به بیا پته لګوم
کومه وعده چې ستا بېګا اوخته

بیا به راتېنګ په فارو نهٔ شي ګورے
که یوه نعره دَ پښتو غوا اوخته

عاطره ستا دَ زړهٔ دردونو ته مې
دَ قلم ژبې نه ژړا اوخته

*
* * *
*

PUKHTO.NET

تا چې زما سره وعدې ماتې کړې
زما په تن خو دې خولې ماتې کړې

ستا د مړو سترګو اشنا شوخو کتو
زما شیشې ماله توبې ماتې کړې

شکر دے ستا مخ کښې سرخې راغلله
ما پرې د زړه وینې چې سرې ماتې کړې

داسې جابره چغه پورته شوله
بیا دې د چا زړه کښې چړې ماتې کړې

PUKHTO.NET

وارخطائي به په تا څکه راتله
تا چې د زړه راله جندرې ماتې کړې

د ور تمبو کښې دې چاؤ پاتې نه کړو
په تلو راتلو دې راله پښې ماتې کړې

چا چې پښتو ته کله بد کتلي
عاطره مونږه ورله خلې ماتې کړې

PUKHTO.NET

*

* * *

*

دَ درد قِصې مې په نغمو چړته کښې
کمېږي نه په اوښکو چړته کښې

دَ زړګي براس يې تاؤ شوا غونډې کړي
وايه اوس مړ دے په پوکو چړته کښې

خيال دَ جانان مې شو په زړهٔ د ننه
خدايه يه زده که پوه شوم په نکالو چړته کښې

مونږ به شيندلي وي کلونه پکښې
څوک دې شي پېښې په دې کوڅو چړته کښې

دَ ذات خبرې دلته ځکه ژاړم
څوک دي سپک شوي په درنو چرته کښې

مونږ مدرسې دَ مينې پرانستلې
مفت سبق ښايو، په پيسو چرته کښې

خاطر، ځمزه دے که ځېبرعاطره
ژوندي حساب دي دوي، په مړو چرته کښې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

دَ زړهٔ زخمونه په ټکور رغېږي
نادانۍ دا کله په زور رغېږي

کړم دې لمبه مخ رانه مهٔ اړوه
سوی دَ اور چې وي په اور رغېږي

چې غمازان پکښې بېلتون راولي
وران چرته بیا دَ مینې کور رغېږي

شیشه خو نهٔ ده چې پیوند به واخلي
مات شوي زړونه چرته نور رغېږي

PUKHTO.NET

وږه خېوه غرهٔ کښې لاړ اوباسي
دا څنې خلق په پېغور رغېږي

ښکلي کلک سترګي دي سخت زړونه لري
په زړهٔ ويشتلي به په ګور رغېږي

محبت څهٔ څيز دے خوږو يارانو
لړګے چې اوسوزي ترې سکور رغېږي

ورله راوړم علاج دَ چين ماچينه
که پرې عاشق دَ سترګو تور رغېږي

عاشق لاړهٔ دَ صحرا اونيسه
درد دې دَ سر کله په سور رغېږي

* * *

PUKHTO.NET

شونډې دې سرې کړه سترګې تورې اشنا
زمونږ د زړونو خیال چې اونه ساتې

شوکوه ګلې د اوربل دپاره
د سرو ګلونو خیال چې اونه ساتې

کوه غرور چې درنه څومره کیږي
د دنګو غرونو خیال چې اونه ساتې

اوسه رقیب سره په خوا کښې ګله
خېر د لوظونو خیال چې اونه ساتې

PUKHTO.NET

جامونه راکړه چې نشه نشه شم
دَ تیندکونو خیال چې اونهٔ ساقي

کړه راخورې په رنړا ورځې زلفې
دَ تورتمونو خیال چې اونهٔ ساقي

دا یه نغمې دَ انقلاب عاطره
دَ زنځیرونو خیال چې اونهٔ ساقي

*
* * *
*

PUKHTO.NET

دلته ښارېې له خلقو ډکې دي
هلته ادیرې له خلقو ډکې دي

څنګ به ستا سره خبرې اوکړمه
کوره چې کوڅې له خلقو ډکې دي

غواړې فرار غواړې د ژوندون سترې
ځکه میخانې له خلقو ډکې دي

تا د آدم لورې په ځان څهٔ اوکړهٔ
سترګه درته سرې له خلقو ډکې دي

PUKHTO.NET

شکر پرې او باسه چې ازاد اوسې
دېرې جبلخانې له خلقو ډکې دي

یوکښې هم پښتو رابته څه نه ښکاري
څه که علاقې له خلقو ډکې دي

څه شوله عاطره شاعري زړه
ولې دي مصرې له خلقو ډکې دي

*
* * *
*

PUKHTO.NET

زړهٔ زما وهي ټوپونه د ګلونو په موسم کښې
راته نهٔ دانې حالونه د ګلونو په موسم کښې

چارچاپېره په ګلونو کښې ملګرو ښکلې ښکارې
دا د خټو جوړ کورونه د ګلونو په موسم کښې

رقيبانو کړې واخلئ نور زمونږ له کلي لاړ شئ
چې مئين اوکړي سيلونه د ګلونو په موسم کښې

چې ځواني پکښې لمبه شي سغله شي په سر سر توره
خو به بل وي سرهٔ اوړونه د ګلونو په موسم کښې

PUKHTO.NET

انتظار مې تمامېږي لږ په بام باندې ښکاره شه
چې زړهٔ وا خلي تکوروته د ګلونو په موسم کښې

د نفرت فضا خوره ده د حسن په کور ماتم دے
بوئي به څهٔ او کړي ګلونه د ګلونو په موسم کښې

هر احساس اوده اوده دے څه بلا خوب اغستلے
عاطف نهٔ وائي شعرونه د ګلونو په موسم کښې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

مینه کښې قربان شوم خو قربان نه یم
زه خو لېونے یمه په زیان نه یم

ته دې د ظلمونو چې قلار نه شې
درد مې د زړه سر دے په درمان نه یم

زه دا خپل غیرت ښکلې پښتو ګڼم
څه شو که غریب یمه زه خان نه یم

مینه به دې ګلې لهله رنګ واخلي
څو چې د مجنون څیرې ګرېوان نه یم

خوشحالي چې خپل ضمير کړي دَ پيسو په زور
زهٔ هغه شاعر دَ چا په شان نهٔ يم

اوس يې راله چل او پيوند نهٔ راځي
پوهه په تفسير چې دَ قرآن نهٔ يم

ولې به پښتو مې ولې ده ولې وه
دا چې حقيقت کښې لا افغان نهٔ يم

سترګې دې کړه پوهه چې راکوري نه
زهٔ جوګه دَ تندر دَ اَسمان نهٔ يم

څکه شوم بې قدره نظرونو کښې
زهٔ عاطر چې وخت سره روان نهٔ يم

* * *

PUKHTO.NET

خوږې په مینه کښې دې تورنه شي
تر هغې زړه به مې تښکور نه شي

خدای ایښکو که هغې ته څه مینه وایم
ژوند چې ملګرو ورته ګور نه شي

رقیب ته چرې ملامت به نه شم
که د قانون په اوږو سور نه شي

چې بې وفا شوې نو بهانې مه کوه
ګلې اشنا چرې په زور نه شي

PUKHTO.NET

راځه راځه له خلقو پټه راځه
چې د دیدن خوارۀ دې سپورنه شي

مینځې کښې چې راشي د پیسې خبره
ورور به راضي چرې له ورورنه شي

ناز او نخرې دې رانه پټې ساته
چرته زړګے مې ورته خور نه شي

شونډې دې ګلې چرې مه سرې کوه
هسې نه بیا په چم کښې شورنه شي

عاطره مه لیکه شعرونه داسې
چې پرې زخمي زړونه تکورنه شي

* * *

RUKHTO.NET

دا په تندي دې د خالونو نخښې
دي مې د زړونو د ارمانونو نخښې

زړه د ماضي مې پرې راغونډې اشنا
دي راسره ستا د عمرونو نخښې

چې خوږه نه شي تراخه مه راکوه
لا مې په زړه دي د زخمونو نخښې

زما په مخ باندې ښکاره ليدې شي
ستا د ظالم زړه د ظلمونو نخښې

PUKHTO.NET

دَ تقدیرونو بدلوونکي ربه
څو کړځووم به په لاسونو نغښې

عاطره ما سره خوندي پرتي دي
دَ محبت دَ یادګارونو نغښې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

وخته څومره اوږد شي لا اوږد شي هجران چې وي
شپه دې وصال په مېشتانو باندې لنډه کړه

خندګه پردې د تضادونو منځ نه لرې شي
مونږ که دې رښتيا ته شونډو پېغله خندا کړه

دا د قلم څوکه به چلېږي تر قيامته مې
څه له جابرانو مې په خوله کښې تبه ګنډه کړه

چا چې د پښتو خبرې شاته غورزولې دي
باقي زمانې په هغه قوم پسې ملنډه کړه

PUKHTO.NET

راشي پرې ناځاپه مجبورو ته دَ چا نهُ ګورې
مرګه ئې ناترسه تا چې ښکلي پېغله کونډه کړه

وس مې په چا نهُ رسي په ځان تېل اړولے شم
ځنې پښتنو چې دَ پښتو ناوې بربنډه کړه

نهُ بيائي په شګو کښې اوبهُ دَ زمانې عاطس
تا ځکه مُلا دې مُصله خپله راغونډه کړه

*

* * *

*

PUKHTO.NET

څه قیامتونه تلل راتلل تا چې رخصت اخستو
روح د کالبوته چې دانګل تا چې رخصت اخستو

زاړه یادونه به یادوم ستا د راتلو په طمع
داسې سوچونه مې کول تا چې رخصت اخستو

تاته اسانه وه اشنا ولې زما له غمه
ګلان له څانګو رژېدل تا چې رخصت اخستو

د کاڼو جوړ د انسانانو ددې دور زړونه
خدائے شته زړه که خوږېدل تا چې رخصت اخستو

PUKHTO.NET

په سترګو سترګو کښې لګيا وو خوږې پوهه نه شو
ياد کړه چې مونږه څه ويل تا چې رخصت اخستو

زغم تېر وو عاشق د وخت د نزاکت د لاسه
خوشحالي غم سره ژړل تا چې رخصت اخستو

هاله شوم پوهه چې دې زړه کښې د عاشق مينه وه
له غريوه بنکته دې کتل تا چې رخصت اخستو

*

* * *

*

PUKHTO.NET

یا څوک شي پورته تر اسمان مینه کښې
یا راګـــذار شي تر ډېران مینه کښې

چي په یوُ ، دوه شي حال يُ څهُ شي وایه
یو خوا رقیب بل خوا لهجران مینه کښې

جنګ دَ نصیب دے سر پرې مهُ خوږوه
څوک ګدا کړ څوک بادشان مینه کښې

ددې منطق هډو جواب نشته دے
چي وي نا اشنا څنګه شي ګران مینه کښې

PUKHTO.NET

دَ کلکو سترګو خاوند ګرم پرې نه دے
ورته لوګے مې کړلو ځان مینه کښې

په دې هم مینه لا خوږه غوندې شي
چې شي جدا لږ مېنان مینه کښې

عاطر دَ ژوند په داسې موړ کښې ولاړ
چې فیصلې کړلو حیران مینه کښې

*

* * *

PUKHTO.NET

دَ پښتون په نامه نامه
دَ چترال نه تر باګرامه

تهٔ يو موټے يو اتفاق شه
خور ورور قامه خور ورور قامه

دَ تورې اودهٔ راويښ کړه
کړه نعره له اوچت بامه

دَ اورونو تپوس نشته
اخستل درته دوه ګامه

په کوم جوړ به تهٔ را واورې؟
يه! زما دَ اولس پامه

PUKHTO.NET

په زړا نه ژوندی کیږي
که پښتو دي شوه بدنامه

ابدالے شه ننګ پیدا کړه
بیا به رسې تر مقامه

د هیواد خبره نهٔ وه
تهٔ ویریږې ئې له سامه

دا مزاج به خټګه جوړ شي
چې یو غږ شي تر امامه

دٔ غیرت یوه ورځ ترې بنهٔ وي
نهٔ سل کاله دٔ غلامه

کړه عمل پیدا عاطره
ستا ویښا ده تر کلامه

PUKHTO.NET

دَ نازولې مينې ننګ دے راته څه وائي ته
پرېږده ورځم ترلے جنګ دے راته څه وائي ته

دَ پاتې نه يم په هغې جوړ، څمه خپل ورور ګټمه
ما درته پرېښے سورپالنګ دے راته څه وائي ته

راپسې مه ګرځه چې چرته يم او چرته لاړم
ړوند وڼ زما اوس دَ ملنګ دے راته څه وائي ته

څنګه اوده شمه اشنا هغه ماحول نشته دے
بس دے چې ستا دَ بنګړو شرنګ دے راته څه وائي ته

PUKHTO.NET

اوس نه پوهیږمه په ځان ما ګناهګار مهٔ ګڼه
بوټے مې څښلے چې دَ بنګ دے راته څهٔ وائې ته

اوس دا خبره ډنډوره شوله کوڅه په کوڅه
عالَم خو ستا په مینه رنګ دے راته څهٔ وائې ته

*

* * *

*

لکه چې خندګه پرون تېر دے، نن پرون نه راځي
داسې د ښکلو رویو کښې څه بدلون نه راځي

چې د رقیب د انتشار لاسونه خوځي پکښې
داسې ماحول ته تر ابده به سکون نه راځي

چې "الف، ب" د محبت او وفا نه پېژني
نو داسې وخت کښې لیلیٰ څه کوي مجنون نه راځي

ډېر که خفه شي له یو بله پښتانه ملګري
اغیار ته یو وي پکښې هڅکله بېلتون نه راځي

د زړګي سره ستا د ګلي نه وتلے عاطس
مرور تلے دے یو ځل بیا په ژوندون نه راځي

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

خوئ دې بدل شو جدا کېږې ولې
دَ مينې جنګ دے په شا کېږې ولې

خلق به څهٔ ګمان کوي په مينه
تهٔ په کوڅو کښې پناه کېږې ولې

لاړې دَ ژوند دې کړې ازغنې راته
له ورايه بيا په خندا کېږې ولې

تا خو زما مينه ليدلې نهٔ ده
راته اشنا په رښتيا کېږې ولې

ستا دَ يادونو قِصې نهُ ختمېږي
دَ مينې ياره خطا کېږي ولې

ما له ماښامه ډيوې اووژلې
رنګينې شپې تهٔ سبا کېږي ولې

عاطرهٔ اوس په ځان قابو اونيسه
مينه دَ يار کښې رسوا کېږي ولې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

اوس ومه لمبه شوم ته خبر نه شوې
وريت که تيکه شوم ته خبر نه شوې

تا چې کړې خبرې د رقيب سره
زه خو مړه کچه شوم ته خبر نه شوې

تا چې راته يو ځل مړه کتلي دي
مړ په ژوندانه شوم ته خبر نه شوې

مينه به دې څنګه پټه اوساتم
ګلي ته ښکاره شوم ته خبر نه شوې

تا چې دې غزل عاطره اوشورو
زه نشه نشه شوم ته خبر نه شوې

PUKHTO.NET

ځونړے دې غور کړلو اشنا بیا اراده په څه کړې
دَ انتظار، که مې دَ قتل، فیصله په څه کړې

زهٔ خو دَ زړهٔ وینې راتوے کړم پرې شعروننه لیکم
تهٔ راته وایه دَ زړهٔ سره ګذاره په څهٔ کړې

زړګیه! چاچې دَ پښتو لباس له ځانه کوز کړو
دَ داسې خلقو سره تهٔ وایه مېشته په څهٔ کړې

چې ژړوې دې کړوې دې رټوې دې یاران
نادان زړګیه په دې دوړ کښې تهٔ ښهٔ په څهٔ کړې

PUKHTO.NET

مونږ په ظاهرو سترګو ګورو خو دانهٔ دې حساب
سترګې دَ زړهٔ چې دي ړندې شوې نو لیدهٔ په څه کړې

زړهٔ دَ عاطف وو دَ فولادو نه سخت نرم شولو
هیڅ پوهه نهٔ شولو اشنا ورته کاتهٔ په څه کړې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

غاڅ يار ته کتل به څنګه وي؟
نهٔ پوهېږم ددې حل به څنګه وي؟

چې حاجت پکښې د تورې رسي نهٔ وي
وايه وايه دا مقتل به څنګه وي؟

چې نشه يم بې نشه دا ستا په مينه
ستا د شونډو د جام څښل به څنګه وي؟

چې په سخته کښې پکار نهٔ شي يارانو
تش په خُله باندې مې مل به څنګه وي؟

که احساس د لوږې لږ شان تا ته اوشو
د نهر انسان رټل به څنګه وي؟

PUKHTO.NET

لکه پرق وي دَ اسمان چې راته اوښي
دا راتلل او دا لیدل به څنګه وي ؟

امیدوار به یم دَ رحم لویه خدایه
چې دژل او دَ روح تلل به څنګه وي ؟

بې ښاکه چې لمبې ترې پورته کېږي
ددې اور دا بلول به څنګه وي ؟

چې دې مینه کښې فرهاد دے هم مجنون دے
دَ نادان زړهٔ صبرول به څنګه وي ؟

چې ضمیر پکښې خرڅېږي په اسانه
دې حالاتو سره تلل به څنګه وي ؟

زړهٔ عاطف چې مرې زړګے ذرې ذرې کړم
نو ببېتونه دَ غزل به څنګه وي ؟

* * *

PUKHTO.NET

چې دې یادونه لمغرې غونډې کړي
دَ زړهٔ دردونه لمغرې غونډې کړي

جوړ شي طوفان دَ سمندر په سینه
پکښې موجونه لمغرې غونډې کړي

راشي هجران چې په تنګه مینه کښې
لکه اورونه لمغرې غونډې کړي

دَ هغه تېرې بربادۍ قِصه مې
دَ زړهٔ زخمونه لمغرې غونډې کړي

PUKHTO.NET

پټ او ښېګړه توره، ننګ او وفا
دا څو لفظونه لمغړې غونډې کړي

جهل به دې واخلي او لمبه به دې کړي
بل مشالونه لمغړې غونډې کړي

رقیبه ستا دنګې مانې به څه وي
قدرتي غرونه لمغړې غونډې کړي

عاطره سوزې به کم ظرفه خلق
چې دې شعرونه لمغړې غونډې کړي

PUKHTO.NET

***

پټ او ښکاره توره، ننګ او وفا
دا څو لفظونه لمغرې غونډې کړي

جهل به دې وا خلي او لمبه به دې کړي
بل مشالونه لمغرې غونډې کړي

رقيبه ستا د ننګ ماڼۍ به څه وي
قدرتي غرونه لمغرې غونډې کړي

عاطره سوزې به کم ظرفه خلق
چې دې شعرونه لمغرې غونډې کړي

PUKHTO.NET

* * *

په هر لوري به ربېدے شم ته زمونږ کلي ته راشه
لکه خور به پسرلے شم ته زمونږ کلي ته راشه

که د خلقو نه وېرېږې پټې به تاکړي له نظره
زۀ به تاته در لوګے شم ته زمونږ کلي ته راشه

په ساده ساده خبرو به اشناچرې مور نۀ شې
زۀ مجلس به د حجرې شم ته زمونږ کلي ته راشه

ستا به سترګې کړمه رنجې ستا به روح کړمه خوشحاله
زۀ به دومره درنزدې شم ته زمونږ کلي ته راشه

PUKHTO.NET

لوبکۍ هم ښکلې غاړکۍ به دلته وینې
کشمالې به د کوټې شم ته زمونږ کلي ته راشه

چې له هر قد غن ازاد وي په ازاد کلي کښې اوسم
یکه ځار به د تپې شم ته زمونږ کلي ته راشه

PUKHTO.NET

*

* * *

*

چې سپوږمۍ د څوارلسمې راښکاره شي
ستا تصوير پکښې اشنا راته ښکاره شي

ټوله شپه ورته شوګير کړم په کتلو
تر سحره زما دغه ننداره شي

تور لوګي مې د زړګي له سره خيژي
لکه بل چې څنګه اور په تناره شي

د زړه وينه څښم ژوندون پرې تېرومه
شپه او ورځ مې ستا په غم کښې ګذاره شي

PUKHTO.NET

تا چې مخ تاؤ کړو رقیب ته څه خبر شوی
لکه دُود چې سپېلنی په انګاره شي

دَ ژوندون په رېګستان کښې مو سفر دے
پکښې شنه اخر زمونږ به زاره شي

ټوله سیمه ئې په سرو وینو خړوب کړه
دَ رقیب کله په دې باندې واره شي

دَ غزل ټیکل دې ډېر ګران وي عاطره
لکه زړهٔ چې په اړې اره اره شي

* * *

PUKHTO.NET

چې له خانه چا کښې نه وي سړيتوب
نو د بل په وښنا خهٔ وي سړيتوب

خوش نصيب ته به کالهٔ وي سړيتوب
بد قسمتو ته په غرهٔ وي سړيتوب

دانايان ورته ملګرو خفه کېږي
بس د هغه چا چې ښهٔ وي سړيتوب

دا خو ورکړه ده د خدائے چې چاته اوشي
په تعليم چرته ايزده وي سړيتوب

بیا غریب خلق دې طمع ترېنه نهٔ کړي
که په زر، که په پیسه وي سرپیتوب

دا دَ عمر په ډېر والي باندې نهٔ ده
دَ ورو ورو هم کړه وي سرپیتوب

دا پرې فضل دَ خدائے نه دے نو نو رخهٔ دي
دَ عاطش هره مصرعه وي سرپیتوب

*

* * *

*

PUKHTO.NET

رقیبان که رانه کله راچاپېر شي
خو ستا ښکلې محبت مې کله کمېږ شي

نه په ځان نه په جهان وي سرسیُن وي
چې په مینه مینه کښې څوک ګېر شي

ستا کوڅه مې ځکه خوښه کړه چې ته يُ
ګنې ښکلې خو لیدے په هر ځائے ډېر شي

دَ پښتو ښکاره مثال دے چې لږ تل خوږه
هسې نه چې ډېر خوراک درته ګنهږ شي

PUKHTO.NET

مرګ له غاړه ورکوم ژوندون به څه کړم
ګلستان چې مې د زړه په وینو سور شي

راغونډ کړي مې خلق د ملاکنډ دي
غمازیان د یوسفزو به واړه زېړ شي

ته اوربل دې په تندي باندې راخور کړه
ارزوګانو ته زما دې ګله خېر شي

عجیبه غونډې قانون دے ستا د مینې
دید نونه په چا لږ او په چا ډېر شي

هغه وخت به د رقیب دپاره مرګ وي
که عاطر دې په کوڅه یو ځلې تېر شي

* * *

PUKHTO.NET

دَ دروغو انتها ده نورڅهٔ نشته
بشهٔ خبره نا روا ده نورڅهٔ نشته

چې بشهٔ نهٔ کوې بې نشته دے هیڅکله
دَ هوښیارو دا وینا ده نورڅهٔ نشته

په وعدو او په نیتو بهٔ ې تېر باسي
دا دَ هرچا مدعا ده نورڅهٔ نشته

تک به درکړي لکه مار وي دَ لستوڼي
په ظاهره که وفا ده نورڅهٔ نشته

PUKHTO.NET

ورک یقین مې شو اعتبار کولے نشم
څۀ په خوله که ئې خندا ده نور څۀ نشته

دَ تهمت په کاڼو ځکه ویشتے کېږم
چې نېکي کووم ګناه ده نور څۀ نشته

خپل پردو نه مې زړۀ موړ شو لو عاطره
ښاریه راته بېدیا ده نور څۀ نشته

*

* * *

*

PUKHTO.NET

زما ماڼي دَ غمزپلي ځوانئ مه لړزوه
داسې آشنا شه دَ آشنا لېونئ مه لړزوه

دَ چا دَ زړهٔ وطن ته زهٔ قدرې ورتللې نشم
پرېږده دَ سترګو کور کښې ژوند دَمستئ مه لړزوه

داسې لاهو به دَ چپو کښې له طوفانه سره
چې خوا دې ېخه کړي ورډوبه کشتئ مه لړزوه

دَ زړهٔ دردونه حسرتونه مې پرې نهٔ کمېږي
ساقيه هسې په ماخپلې پيالئ مه لړزوه

که په معنئ دَ مينې پوهه شو ساده آشنا مې
وائي عاطر ته به راځه پرېشانئ مه لړزوه

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

ژوند دَ سوکړې به تېروڅهٔ اهتمام نشته
په سر دَ زمکې چې ترڅو دَ خدائے نظام نشته

څومره تېروتے دے انسان چې بل ته ګوته نیسي
خپل حسابونو کښې هېڅوک چرې بدنام نشته

ستا دَ ستم قیصې دَ یوې ورځې نه بلې ورځ ته
لا سېوا کېږي خو افسوس چې بېدار قام نشته

دې به هم ستانه تپوس کېږي غاوره نشې
دَ نن شاعره ستا دَ قام په نوم پیغام نشته

چې دَ زړهٔ وینې ئې شیندلې دي په غر او سمه
داسې پل نشته دے زړګیه داسې ګام نشته

ویل جواب کښې راته دا چې وه عاطر یوسفزے
دَ محبت سندرې ستا په کوم یو بام نشته

*

* * *

*

PUKHTO.NET

راکړه ساقي جام دَ ميني ستا مهرباني به وي
لږ دَ رقيبانو نه په غلا مهرباني به وي

ستا په انتظار کښې مې سپينېږي تور دَسترگو اوس
نن دې کړه پوره لوظ اشنا مهرباني به وي

راکړه دَ وصال خير دې چې نهُ شم بې نوا گوري
راغلمه تر دره ستا گدا مهرباني به وي

پرېږده دوه رنگي درته منت په عاجزۍ کوم
هسې نه شي مل زما سودا مهرباني به وي

زهٔ به درته ځان دَ سپېلنې غونډې لوګے کړمه
تا که راسره اوکړه وفا مهرباني به وي

کور مې پرېښو دلے دے اوکلي نه هم تلل غواړم
او وله په زړهٔ مې يو ځل بيا مهرباني به وي

سختې دَ ژوندون په هره لاره امتحان اخلي
مهٔ کوه عاطره نه ژړا مهرباني به وي

PUKHTO.NET

چې دا لمبې دَ انتظار تېرېږي
ګوره لمبې چې په ما خوار تېرېږي

تن سبا داسې مانه يار تېرېږي
څوک لاړو‌ے لکه په لار تېرېږي

هره ګړۍ مې ياره ستا نه جُدا
لکه منصور په سر دَ دار تېرېږي

دا ورځې شپې دَ ژوندانهٔ اوګوره
لکه کاروان ورو ورو قلار تېرېږي

PUKHTO.NET

شیخه! ما پرېږده چې جامونه اوڅښم
ستا نصیحت مې په زړهٔ بار تېرېږي

تهٔ مسافر شوې له وطنه ورک شوې
عمر مې ستا په انتظار تېرېږي

عاطره دا غټان ترې څهٔ خبرېږي
سختې خو تل عمر په خوار تېرېږي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

ړستا په نصیب یاره دَ ګلونو زندګي ده
زما لکه بلبل تل په ښېلونو زندګي ده

تل تا په خندا غواړم غم دې وي لتا نه لرې
زما خو خیر دے مینه په غمونو زندګي ده

پوښتې مې وايه څله چې په زړه مې څه تېرېږي
"حالات څه دي اشنا په انګارونو زندګي ده"

تل ښکلي بې وفا وي زه به څه وایم ملګرو
رسا په زړه سورے یم دَ دردونو زندګي ده

PUKHTO.NET

نن بیا دې په محفل کښې د رقیب په خوا کښې وینم
دا ستا څنګه په خپلو څوګندونو زندګۍ ده

زه څنګه به صفت ستا د نیمګړې وفا اوکړم
ستا مینه کښې زما د ارمانونو زندګۍ ده

عاطره یو خوا اوښکې په ګرېوان له غمه څاڅي
بل خوا ته د زردارو په جامونو زندګۍ ده

*

* * *

*

PUKHTO.NET

پاڼې په زړګي مې شوې ارزو صنم
زه دې کړم پښېمانه په راتلو صنم

ناست دې دَ وصال په تمنّا يمه
کله به په ما يې کړې پېرزو صنم

ستا دَ نظر غشو ويشتې زړه به مې
روغ به کله نه شي په دارو صنم

ځکه مې دَ خولې نه فريادونه ځي
غوڅ يم ستا دَ سترګو په ارو صنم

PUKHTO.NET

ستا په جدايي کښې اندرون په زړهٔ
او سومه جل بل په غرغرو صنم

ستا لېونې مينې لېونے کړمه
ګرځم خوشے خوشے په مېړو صنم

راشه ما عاطر له په پوښتنه لږ
ستړې مې شوې خور په شوګيرو صنم

*
* * *
*

PUKHTO.NET

فکرونه لېوني مې تر جانان وړي راوړي
جوتي يې ما دَ وصل په ارمان وړي راوړي

خندا يې لېونۍ دَ نظر غشي يې تېرۀ دي
ادا يې کړي له ورايه ګلستان وړي راوړي

دَ زړۀ په بيمارۍ مې نۀ پوهېږي مسيحا هم
طبيب مې لېونے دے چې داروګان وړي راوړي

هيڅ څوک رسېدے نشي تر سماء که عقلمند وي
خو عشق لېونے مې تر اسمان وړي راوړي

PUKHTO.NET

وریځې دَ تورو زلفو ئې په ښځ باندې خوره شو

دا ستر ګوله مې بیا جوړې باران وري راورې

عاطره چې له درې بې وصاله ګورته لاړ شم

بیا څه که مې مزارته چراغان وري راورې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

چې زما د زړګي سر دے
هغه څومره بختور دے

ستا احسان په ما د مينې
لکه پروت راباندې غر دے

ستا د چم هر يو وګړے
ستا له مخه په ما بر دے

په هر څهٔ راته قبول دے
خېر که بې کمله ډنډر دے

ستا دَ حُسن کرشمې دي
چې ښائسته پرې لړاو بر دے

دَ رقيب خواګښې دې وينم
زما تا باندې نظر دے

زهٔ ګيله به څهٔ دَ بل کړم
مانه خپل ځان مرور دے

ستا دَ مينې نه عاطره
کور او کلے چې خبر دے

* * *

PUKHTO.NET

اوخندل چې یار په سترګو سترګو کښې
ور مې کړو اختیار په سترګو سترګو کښې

ته اوکړه اقرار په سترګو سترګو کښې
زه به شم ستا ځار په سترګو سترګو کښې

څه اوشو خزانه که ګلان نشته
تېر به دې شي وار په سترګو سترګو کښې

زړه مې له کالبوته سرګردانه شو
جوړ شو چې بهار په سترګو سترګو کښې

PUKHTO.NET

راشئ پاړوګانو اوس علاج له مې
اوخورم ښامار په سترګو کښې

ټوله شپه مې یاره انتظار کښې ستا
کړه مې ستورې شمار په سترګو کښې

زهٔ عاطرؔ ګورم په هر ځائے کښې خو
نشته دے قرار په سترګو کښې

*
* * *
*

PUKHTO.NET

تا چې را خورې کړې د کمڅو څوکې
زړهٔ کښې مې شوې ماتې د ازغو څوکې

خیال کښې که دې راشم او که رانهٔ شم
ما درسې ګل کړې د لیمو څوکې

مینه کښې مجنون بنهٔ یم بېدیا له ځم
څو به درته نیسم د کوڅو څوکې

ستا د نظر غشې لا په زړهٔ کښې مې
کړې ئې غزونې په ورو ورو څوکې

PUKHTO.NET

خوبۍ يمه پتنګ دَ تا په مينه کښې
خبر دے که سېزې مې دَ لمبو څوکې

زهٔ اشنا تکل به ستا دَ مينې کړم
هر څو که تېرې شي دَ چړو څوکې

مړ که شوې عاطرهٔ دَ قام ننګ کښې ته
تا پله کړې به شي دَ غرو څوکې

*
* * *
*

PUKHTO.NET

چې رقيبان دې سره خار اونيسي
څنګ به خيالونه مې بهار اونيسي

څه به خوب ورشي ستا يادونه چې دي
سم د مانبامه ورته لار اونيسي

چې هر طرف ته ترې اورونه بل دي
نو داسې وُنه به څه بار اونيسي

خدائے دې امان ورکړي له هغه وخته
چې پرې نښه د انتظار اونيسي

PUKHTO-NET

راغلل بې شرمه بې حیا وختونه
یار چې دَ یار له مخې یار اونیسي

ستا دَ یارۍ نه به منکر نه شمه
که مې رقیب په سر دَ دار اونیسي

کوی دې ظلم په عاطرؔ یوسفزي
څنګ دَ ازاره به بازار اونیسي

*
* * *
*

PUKHTO.NET

چې يو ځل اوخوري په زړه ګذار د عشق
روغ به نه شي چرې دا بيمار د عشق

بيا پرې دم د پاړوګانو نه چلېږي
چې خوړلې وي په زړه ښامار د عشق

چې په سينه کښې صادق وي نه بدلېږي
د منصور غوندې که شي په دار د عشق

چې مې نه راځي اشنا د زړه په کلي
څو به زه ورپسې ګورم ښار د عشق

PUKHTO.NET

لا زخمونه مې دَ زړهٔ ورغلي نهٔ دي
تهٔ لا هغسې پوکې انګار دَ عشق

ترهغې ترېنه يو ګل شوکوے نهٔ شي
څو چې تا ليدلے نهٔ وي خار دَ عشق

که ترې سر و مال قربان کړې اے عاطرهٔ
خپل به نهٔ کړې په دنيا کښې يار دَ عشق

PUKHTO.NET

*

* * *

*

PUKHTO.NET

دَ خپتې غم څه دَ اشنا فکرونه
دَ نصیب لوبې دي چې سوږ زغمونه

ملګرو داسې چرته شوې نهٔ دهٔ
کړ دَ ازغو کړې شوکوې ګلونه

زما مثال دَ هغه ګورې ونې
چې دمه کېږي ورته سترې زړونه

بې دَ سزا نه خالي نهٔ دهٔ اشنا
چې هم کوې هم ماتوې لوظونه

ستا په بنګلو باندې نهٔ ورکوؤ
زموږ دَ خاورې ختې جوړې کورونه

زړګیه خدائے دې په تاراڼهٔ ولي
تاوُدهٔ باړونه دَ هجران اوروڼه

دَ ژوند کړې به هوارې نهٔ شي
تېرې شوې په موږ باندې عبث وختونه

عاطره بيا ئې په راتلو څهٔ کوے
خاورې په تا چې شي انبار منونه

* * *

PUKHTO.NET

دا ته چې راغلې زما په کلي
ظلم دې اوکړلو اشنا په کلي

څه دې کړه ګړه او څه دې ژوبل زړونه
الله دې رامه وله بیا په کلي

څومره په ګرانه یو یو کور جوړیږي
تا په اسانه کړه غوغا په کلي

کووم تپوس به د تنکو ګلونو
تا چې سېزلي دي د چا په کلي

PUKHTO.NET

ننګ او غیرت مې کله خوب ته پرېږدی
راځي تـر غوږو مې ژړا په کلي

•

ګورئ خلوص که د عاطف یوسفزي
پېښه ئې اوکړئ ځاځا په کلي

PUKHTO.NET

*

* * *

*

که مې زړهٔ څوي په تا بېلے نهٔ وے
داغ په زړهٔ به مې اشنا خوړلے نهٔ وے

څراغان به مې دَ اوښکو بلول نه
که په زړهٔ مې دَ یادونو څلے نهٔ وے

که خبر وے چې به ته بدلېږې یاره
په نازونو به مې بیا ساتلے نهٔ وے

دا حالات دَ انسان زړهٔ کښې درد پیدا کړي
راتلل ډېر به وي اشنا چې تلے نهٔ وے

PUKHTO.NET

په بنو نو صحرا ګانو کښې دې ګورم
لوئے الله که پیدا کړے ښکلے نهٔ وے

چې انسان پرې تل دَ مینې حد ته رسي
دا شراب به ما دَ مینې خښلے نهٔ وے

که خبر وے چې به بیا راته راګورې
ما به زخم دَ سینې کنډلے نهٔ وے

دَ یو کس علاج ورځې بهٔ پرې پوهېږې
خو عاطر ته مخاخ چې کلے نهٔ وے

* * *

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

چې کومو سترګو به کړو ستا انتظار
نور به اوس نهٔ کوي اشنا انتظار

چې مینه وي ورته به غاړه ږدمه
خو داسې نه چې تر سبا انتظار

دَ زړهٔ درزا سره نظر بدلوم
څومره ناترسه وي دَ چا انتظار

عاطره نور به دې خفه نهٔ کړمه
ډېر کړلې سترې نهٔ زما انتظار

په اشارو چې زما پوهه نهٔ شوې
خلق شو پوهه اشنا پوهه نهٔ شوې

تا ته لوستلو کښې اسان یمه زهٔ
خو دَ مطلب په ادا پوهه نهٔ شوې

ستا سادګي راله خندا راولي
دَ شپې مې پوهه کړې سبا پوهه نهٔ شوې

چې ئې زما په خوا کښې اولیدلې
ته دَ رقیب په ژړا پوهه نهٔ شوې

PUKHTO.NET

دَ زړهٔ دردونو زلـزلې جوړې کړې
خو ولې تهٔ په درزا پوهـه نهٔ شوې

راغللې ډېرهٔ مـودهٔ پس عـاطرهٔ
ما کړل موتګونه قضا پوهه نهٔ شوې

*

* * *

*

PUKHTO.NET

چې سوزوي مې ژړوي مې له خفګانه دلته
دغه ګیله مې په زړګي ده یاره ستانه دلته

نشه وعده د راتلو اوکړه هرو راځې نشې
ژوند مې تېرېږي ستا په مینه له ارمانه دلته

رقیب به خوښ ښکاره کوي د رقابت د طوفان
وي ځلې څولې په ژوندون که به جانانه دلته

ما سره فکر وی اشنا چې لیونے نهٔ شمه
مینه چې ستا ډېره خوږه ده په ماګرانه دلته

PUKHTO.NET

ستا بې یقینه زړه لا اوس هم غاړه نه ږدي ورته
جوړې په ځې شولې لارې د زړا نه دلته

نفرته! خورشولې وطن کښې وایه پاتې څه شو
ورور دے د ورور نه مرور ځوئے د بابا نه دلته

خپر ته دې زلفې راخورې کړه چې تیارې جوړې شي
مخکښې وریځې ښکاره کېږي له بارانه دلته

عاطره ستا په یوسفزو کښې جوړې ځادرک شوے
ژوند تېر وي چې په پردیس کښې سرګردانه دلته

* * *

په نمونو کښې نمونه ښکاریږي
پښتو حیا ننګ مو جامه ښکاریږي

مونږه پرې فخر کړو عزت ئې کړو
ساده ساده ده خو درنه ښکاریږي

په فرنګیانو زلزلې راولي
چې دې په سر دنګه شمله ښکاریږي

بهانه جوړه کړه بهر را اوځه
پاس د کوټې نه ستا کوځه ښکاریږي

شوخي پیدا کړي رنګیني خوره کړي
په سر چې ستا سره لوپټه ښکاریږي

PUKHTO.NET

دَ حادثو نه ډک وختونو کښې يم
ګرانه دَ ژوند هره لمحه ښکارېږي

نورې اشنا امتحانونه مهٔ اخله
دا زما مينه تاته څهٔ ښکارېږي

موږ دور انديش نظر دَ لرې لرو
تېر شوم په خوا دې تاته نهٔ ښکارېږې

خالقه ستا ښکلي تخليق ته مدام
ځکه عاطر ګوته په خلهٔ ښکارېږي..

عاطره ژوند دَ چا، اختيار ئې دَ چا
حل به ئې څهٔ وي معمّه ښکارېږي

* * *

PUKHTO.NET

مهٔ چېړه نغمې مې د ژوندون ګله
اُور به مې شي پورې په سکون ګله

دا لکه خزان چې په بهار راځي
مهٔ ځهٔ خدائے د پاره شه راستون ګله

نهٔ پرېږدي لوظونه د وفا چرې
څوک چې ځان ته اووائي پښتون ګله

سترګو کښې مې ستا د سترګو مينه ده
کړم په توره شپه کښې دې لټون ګله

PUKHTO.NET

اور چې لکه پورې شي په شين چمن
خدائے دې چاته نه ښائي بېلتون کله

بيا مې په خازو د قبر مه ليکه
راچې راله نه شي په ژوندون کله

وو به د عاشق د رنځ علاج نکړي
هسې دې څوک نکړي زړه چاودون کله

* * *

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

پام کړه لېونۍ زړه ته مې څه ګوري
تبسّتې چې له سورې مې هغه ګوري

کوم ځائے کښې چې شوکې او قتلونه دي
دے هغه منزل هغه کوڅه ګوري

ته که وکې سترګې د غصې نیسې
زه وایمه دا چې یار خوازه ګوري

تل چې راسره وي اشنا خنګ په خنګ
خود به رقیبان کا زه وازه ګوري

ځومره ساده ګي د ه زمونږ مينه کښې
زهٔ چې چاپسې يم ما هغه ګورې

ګوره سوداڼې عاطر ته څهٔ کوې
لا غزل نيمګړے او مقطع ګورې

*
* * *
*

PUKHTO.NET

مینه او ارمان ګوره ساده ساده
ځار شو د جانان ګوره ساده ساده

اوښکې اسویلي مې جرګه اولېږل
دا هم شول په ځان ګوره ساده ساده .

غوښې د زړګي مې ورته ورکړلې
نه مني تاوان ګوره ساده ساده

غوارم یو نظر د سر په بیعه ترې
بیا وایي ارزان ګوره ساده ساده

PUKHTO.NET

ستا پیچې د یو وخت پوړې کوې نشي
وائي ځانته خان ګوره ساده ساده

زه عاطرؔ ی در ته نن ور غلې ووم
وي ویل قربان ګوره ساده ساده

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

نهٔ په ځان نهٔ په جهان ده زما مینه
یاره تا باندې قربان ده زما مینه

که سختې د ژوندانهٔ مخې ته راشي
لېونۍ لکه طوفان ده زما مینه

څنګ به ستا د پېغلتوب ناوې سنګار کړم
چې خوشبو هسې پرېشان ده زما مینه

ستا ښکلا به دوام اومومي که راغلي
له مودو نه په ارمان ده زما مینه

غزونې لکه بوټې پرېوتلې کړې
ستا تکل کښې سرګردان دۀ زمامینه

تاته وېلې هر کلې نۀ شم سپرلیه
هلته دلته بندیوان دۀ زمامینه

PUKHTO.NET

*
* * *
*

PUKHTO.NET

که په ښائست کښې لا ثاني ښکاري
هېڅ بقا نه مومي فاني ښکاري

د ژوند په لاره چې ازغي ښکاري
پکښې مېشته مو زندګي ښکاري

زما چې وار راشي څه چل پرې اوشي
ډېر فريب ژن راته ساقي ښکاري

د هار غرمو کښې په دې شاړه مېره
ښخې د پښو د لېوني ښکاري

خنګ به موښ دواړه سره مینه اوکړو
دا چې قدم په قدم سپي ښکاري

چې ګل ته لاس کړمه ازغي شي مغکښي
دومره زما کم نصیبي ښکاري

دا ستا د ستر ګو یو ځل مړاوي کاته
پورې را پورې له زړګي ښکاري

که بې مقطع وي یارې هم پیژني
وائي غزل د یوسفزي ښکاري

* * *

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

زهٔ دې غم سره اشنا شوم تهٔ اشنا نهٔ شوې تراوسه
زهٔ مجنون یم ستا دَ مینې تهٔ لیلیٰ نهٔ شوې تراوسه

دا دَ چا په لمسون یاره په مغرور حُسن تېروځې
ما معصوم زړهٔ درله درکړو تهٔ زما نهٔ شوې تراوسه

انتظار کړم غمزېلے دَ فراق په توره شپه کښې
تهٔ زما دَ سترګو نم کښې لا رڼا نهٔ شوې تراوسه

دَ نسیم هسې ارمان مې دَ شباب په سحر پروت دے
ددې تورې شپې منزله لا سبا نهٔ شوې تراوسه

دَ رقیب سره ترڅنګه دَ ګلشن په لاره ګرځې
زما یو مرض له یاره میمانهٔ شوې تر اوسه

ګیله منې سترګې تاته دَ حسرت په نظر ګوري
په ګیلو ګیلو کښې یاره لا پخلا نهٔ شوې تر اوسه

*
* * *
*

کله یادېږي په کوڅو پسې ړاندهٔ غوندې شو
خپلوان خوشحاله کوې پردو پسې ړاندهٔ غوندې شو

اشنا ته مه وایه سندرې دَ سپرلو په حقله
مونږ مسافر خو یُو وږمو پسې ړاندهٔ غوندې شو

منمه دلته کښې هر څهٔ شته په څهٔ کم خو نهٔ یُو
په وچ سوکړک سپینو شوملو پسې ړاندهٔ غوندې شو

دا دَ سماج دَ ناکردو دَ لاسه نیکلي ځوانان ؛
دلته کښې هم په مزدورو پسې ړاندهٔ غوندې شو

PUKHTO.NET

شوې بلاګانې قربانۍ دَ تېر وختونو راته
دَ يار کوڅه کښې نن په تلو پسې رانده ګُغونډې شو

هر څوا منتظر وې که وې ښارې او که سمه غروې
عاطره ټول ئې په ليد و پسې رانده ګُغونډې شو

*

* * *

*

PUKHTO.NET

ستمونه چې په ما کړي
يار مې داسې ناروا کړي

دَ حسينؓ هغه قِصه ده
چې يزيد په کربلا کړي

لېونے نهٔ دے نو څهٔ دے
زړهٔ مې مينه دَ خوبا کړي

ستا دَ مينې برکت دے
خلق ما پورې خندا کړي

PUKHTO.NET

چې نامه ئې راته واخلي
زړه سینه کښې مې درزا کړي

دا تیارې به عمرې نه وي
خدائے به یو ځلې سبا کړي

دا د نن دور انسان دے
ډېر دروغ اؤ لږ رښتیا کړي

ستا د کلي نه که لاړو
بیا عاشق به څوک رضا کړي

* * *

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

راشه که راځي دَ نن سبا څهٔ پته نهٔ لګي
ستا څهٔ پته نهٔ لګي زما څهٔ پته نهٔ لګي

ستا انتظارونو خو په زړهٔ سورے کړمه
ټول پرهر پرهر يم دَ دوا څهٔ پته نهٔ لګي

زهٔ درته ولاړ يم ستا کوڅه کښې په دې سرو غرمو
ټول عالم اوده دے جوړ دَ چا څهٔ پته نهٔ لګي

څومره به ښهٔ اوکړې که لږ ما ته مخامخ شې ته
اوکړه نيکي اوکړه دَ دُنيا څهٔ پته نهٔ لګي

وران به کړي دروغ کلی ملګرو سیند سیلاب به شي
اوس خو حاضر وخت کښې د ربنتیا څه پته نهٔ لګي

مینه ستا سره به زهٔ عاطره څنګه اوکړمه
نن خو دلته یمه او د بیا څهٔ پته نهٔ لګي

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

روح دَ غیرت چې ستا له تنه خېژي
سرې غرغنډې مې له بدنه خېژي

معلومه نهٔ دهٔ چې به څهٔ تهٔ ابېږي
په خوله دُعا، ښېرې دَ زړهٔ نه خېژي

ژوندون مې تا دَ حادثو نه پټ کړو
هره لمحه په کړمنه خېژي

یو رو دَ چا کافرو سترګو نظر
چې شنه لوګي مې له وطنه خېژي

ماطوفانې جذبې راغوښې کړې
ساه درنه ولې په پوښتنه خېږي

یاران خو من اوښکي پروا نهٔ لري
فتوې په مونږه په څکنه خېږي

وي جنازه به دَ عاطر یوسفزي
چې خوشبويي به ېې دَ کفنه خېږي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

ستا دَ مینې اُور دو زړهٔ مفتون شومه
تهٔ ې شه لیلیٰ زهٔ دې مجنون شومه

زهٔ لکه رېدے په زړهٔ داغلے یم
ځکه په مېړو کښې اوس زرغون شومه

لږ غوندې مسکے خو په کتو کښې شه
غم کښې دې اشنا سر په زنګون شومه

ستا دَ نظر غشې خاص په زړهٔ لګې
ستا دلاسه غوڅ په زړه دړون شومه

وَ دې کړو عاطرهٔ ننګ دَ چا په سس
خټکه بې نوا ترېنه راستون شومه

PUKHTO.NET

زهٔ او تهٔ چې یو شو دُنیا دغه ده
زړونه چې یو کېږي دنیا دغه ده

راشه همسفر شه تهٔ د لارې مې
درومي چې کاروان پرې رڼا دغه ده

ستا وعده نیمګړې د راتلو چې شوه
مینه کښې اشنا هم جفا دغه ده

زهٔ به څهٔ ګیلې له ښکلو اوکړمه
پټه کوي مینه ادا دغه ده

څهٔ رنګ چې عاطس سر په ځنګلو شو
تا سره ئې مینه اشنا دغه ده

PUKHTO.NET

نن مې په ښېښو کښې هډو دم نشته دے
ملګرو خواکښې مې همدم نشته دے

چې تاج محل دَغرور وران ويجاړ کړي
زړګيه ستا اثر دَغم نشته دے

قسمت مې هسې په ډغرو سر دے
ګنې رڼا ده څهٔ تورتم نشته دے

په خوشحالۍ کښې خو را درومي ياران
زما له غمه سره سم نشته دے

PUKHTO.NET

حالات ترل په زنځیرونو کوي
معصومه یاره ستا کرم نشته دے

عاطره رنګ به راوړي ستا دا مینه
غم خوړ شته خیر که صنم نشته دے

*
* * *
*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

دروېشان خلق په پېسو څه کوي
سمندرونه په اوبو څه کوي

زه دې خلقو سره څنګ چلېږم
دوی مې جواب ددې نېکو څه کوي

د ساعت پس چې پته نه لګېږي
بيا په دې دومره تلوسو څه کوي

په زړه کښې پټ د الله نوم اخلمه
ياران په لاس کښې په تسبو څه کوي

د انسان قدر انسان نه پېژني
کښې د دور په فتنو څه کوي

دَ مئين زړهٔ کښې که ستامينه نهٔ وي
توله شپه ويښې په شوګيروشهٔ کوي

چې ئ مطلب کوهيان دَ تپلو نهٔ وے
ياران په دې دشتو مېرو څهٔ کوي

ستا له ديد نه چې زړهٔ چاودے لاړشي
دَ مرګه پس دې په ديو څهٔ کوي

چې تکليفونه پکښې ځائے نهٔ نيسي
نو په دې ځايه مدرسو څهٔ کوي

دَعاطِرؔ پوهه دومره چرته رسي
په دې ساده مصرعو څهٔ کوي

* * *

PUKHTO.NET

تاقدمونه په لوظونو چې دَ کبر کېښول
ما هم په زړهٔ درانهٔ کاڼي دَ صبر کېښول

نوې دنیا شوه خلق څهٔ کوې اُوچېرته لاړل
کاش که دَ شپو نه مونږ کامونه په سحر کېښول

مونږ په سور اُور کښې هم نغمې دَ محبت ویلې
څهٔ که په خُلو راله وختونو لاس دَ جبر کېښول

مونږ لېونې یُو په دې نهُ یُو چې به څهٔ پېښېږي
په روڼ تندي باندې ئې څښو که اشنا زهر کېښول

غواړي عاطر پوهه دَ قام دپاره ستره خدایه
خېر که غزل کښې ئې شعرونه دَ لوئې عمر کېښول

PUKHTO.NET

چپه چپیا توره تیاره دهٔ او دري نیمې بجې
ستا د خیالونو سلسله دهٔ او دري نیمې بجې

خلق اوده دي راله خوب نهٔ راځي څهٔ اوکړمه
راته سکروټې بستره دهٔ او دري نیمې بجې

پکښې د اوښکو چراغان کومه زړهٔ ښادووم
ستا د یادونو اديره دهٔ او دري نیمې بجې

څوک خو د ځانه ځانله کارنهٔ ګوري پیښه شوله
دا په نصیب کښې مې پرته دهٔ او دري نیمې بجې

PUKHTO.NET

شي به رنګيني مې يو ځلي دا کوڅې ملګرو
چې حوصله مې تاتره ده او دري نيمې بجې

په دې ئې نه يم چې به څه شي ياره څه به کېږي
مه وايه دا چې شپه پخه ده او دري نيمې بجې

زما د سپل ملګري څې "د منزلونو په لور"[1]
څومره پخه ئې اراده ده او دري نيمې بجې

"کاروان د ستورو"[2] د عاطرې تماشې واخستو
دا د رنګونو هنداره ده او دري نيمې بجې

---

[1] "د منزل په لور"
زما د خوږ ملګري نعيم راهي صيب د کتاب نوم.

[2] "د ستورو کاروان"
د پښتو ادبي غورځنګ د سپوږي لاندې چاپ کتاب.

په دې لارو دې کوځو کښې پسې ګرځم
چې په دښتو او مېرو کښې پسې ګرځم

چرته وې به چرته وې به چرته وې به
هم د ورځې هم په شپو کښې پسې ګرځم

چې د خلقو په مخونو کښې ئې ګورم
تل د سترګو په بڼو کښې پسې ګرځم

زهٔ عادت د نشې نهٔ یم چې ورځمه
په تکل ئې مېکدو کښې پسې ګرځم

PUKHTO.NET

په دې نه یم چې په روې شمه ملګرو
د دریاب دنګو څپو کښې پسې ګرځم

باغ ته هم ګله ناکله مخه اوکړم
د ګلونو په ورمو کښې پسې ګرځم

اخرې سترګو کښې هغه چې ژوند ورکړې
د امید بلکو لمو کښې پسې ګرځم

چې ئې مینه د لیلیٰ سترګو کښې راکړه
د مجنون په ښکو سرو کښې پسې ګرځم

څیله مینه ئې ګلونو کښې ښکاره کړه
خیال مې لاړ شي په لمبو کښې پسې ګرځم

منزلونه به دې سر شي بیا عاطره
چې د کاڼو په تسبو کښې پسې ګرځم

* * *

PUKHTO.NET

اور چې راوړې ګله بسهٔ نهٔ کوې
لمسې مې سېزې ګله بسهٔ نهٔ کوې

ستا کوڅه کښې څوک دې تاته پته دهٔ
کانړې وروې ګله بسهٔ نهٔ کوې

هر امتحان ژوند کښې سبق پاتې شي
ما چې قتلوې ګله بسهٔ نهٔ کوې

دې ايرو کښې شته دَ اور بڅرې لا
ولې يې پوکې ګله بسهٔ نهٔ کوې

PUKHTO.NET

ما د پښتنو قيصې لوستلې دي
نۀ ځان خرڅوے ګله ښۀ نۀ کوے

ما درته کتل او تا چې نۀ کتل
خلق پوهه وے ګله ښۀ نۀ کوے

يم مئين، تر خپله وسه مينه کوم
زړۀ نۀ قبلوے ګله ښۀ نۀ کوے

شوم عاشق د ګلې دښمندارۀ خو
تۀ په ورستو ځې ګله ښۀ نۀ کوے

PUKHTO.NET

* * *

دُنیا که هر رنګه بېخوَر کړې دې
کړ مونږ دَ مینې لور په لور کړې دې

پاتې حاجت دَ ازمېښتو نو نهٔ شو
مونږ خو ژوندون له دَمرګ پور کړې دې

هسکې غړې سرونه ټیټ به نهٔ شي
وخت که هر څومره ظلم زور کړې دې

شونډې هغوئ که راله اوګنډلې
مونږ په نغمو دَ مینې شور کړې دې

PUKHTO.NET

يارانِ په داسې ژبه نه پوهېږي
محبت مونږ ډ ستر ګو تور کړې دے

عاشر ډ هغه ننګيالو سره دے
چا محبت چې کور په کور کړې دے

PUKHTO.NET

*

* * *

*

ستا که یاره دَ نظر ښکلې قِصه ده
خو په ما هم دَ اثر ښکلې قِصه ده

فیصله کول یې ګران راته ښکارېږي
بس دَ سترګو دَ ټکر ښکلې قِصه ده

پرېشانۍ یې دَ مودو کړې راله ختمې
اودم زهٔ دَ چا په سر ښکلې قِصه ده

دیوې مرې نیهٔ دي بس یاره چې تیارې کړو
دَ ماښام نه تر سحر ښکلې قِصه ده

PUKHTO.NET

مالاکنډ اوس هم لا هغه مالاکنډ دے
په ځان نه منل دَ سر ښکلې قِصه ده

دَ زړهٔ سترګې که دې پرانیزې عاطره
په تاریخ کښې دَ خیبر ښکلې قِصه ده

درنه هسې نهٔ شي غزلو کښې عاطره
چې دَ مات منګي کودر ښکلې قِصه ده

PUKHTO.NET

* * *

PUKHTO.NET

دولت شو ختم اشنا هم ورپسې
محبت ورک شو وفا هم ورپسې

کچکول په لاس ګرځم کوڅه په کوڅه
غیرت هم نشته حیا هم ورپسې

ماده پرست شو دې دور انسان
جنت شو پاتې عقبا هم ورپسې

یقین دَ نوم ترحده پاتې وینم
حقیقت لاړو رښتیا هم ورپسې

عاطرؔ به یاد دَ دوستئ څخهٔ اوساتي
خندا ئې بېله ژړا هم ورسي

عاطره مینه چې په ژوندکښې نهٔ وي
رنګ ئې شه خاورې بشکلا هم ورسي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

غریبي ښه ده خو غیرت دې نه ځي
بې وسي کور ته د حاجت دې نه ځي

مینه پښتو وفا ښېګړه راته
زما د تنه په دولت دې نه ځي

د زړه د کوره ښکلي کله شرم
پکښې دې وي په هېڅ صورت دې نه ځي

ژوند کښې تاوان که سره ډېر هم اوشي
یاران زما نه د صحبت دې نه ځي

PUKHTO.NET

خالي بو ټهۍ درته پرېږدم کلے خو
لېونے زړهٔ مې د محلت دې نهٔ ځي

بټهۍ د اور په ژوندون نهٔ جوړېږي
خلق د چا په شرارت دې نهٔ ځي

صبر کول په تهال د صبر ځانګل
عاطره ستا دغه خصلت دې نهٔ ځي

بس نجۍ عاطرۍ صمتونه کووم
يار د غروره پاس اوچت دې نهٔ ځي

* * *

PUKHTO.NET

دَ تورو غرونو نه دې واړولم
د وطنونو نه دې واړولم

مينې دې يار لهسې په مخه کړمه
دَ هېوادونو نه دې واړولم

لاس دې راښکړو دَ پښتو ښکليه
بس دَ ټانګونو نه دې واړولم

دَ ګل ديدن څاڅکي دې اوړول
دَ جنتونو نه دې واړولم

PUKHTO.NET

زما د قام د بې وزلۍ احساسه
خپلو فکرونو نه دې واړولم

طمع مې مکوه د بیا راتللو
چې د حدونو نه دې واړولم

اوس زه عاطر درته والې کړمه څه
د غزلونو نه دې واړولم

* * *

PUKHTO.NET

درد چې مې په زړه کښې دَ غم اوباري
سترګو کښې ډنډونه دَ نم اوباري

اور شي کله یا دَ ګلو غنچه شي
ستا چې په ادا کښې ستم اوباري

ستا دَ پښتني لوظ پښتو ورکه
مالګې په پرهر کښې چې سم اوباري

ته دَ ښکلا کانو سندریزه شه
هله لېونې به په چم اوباري

PUKHTO.NET

زور د انقلاب ښکاره کولے شي

نه ئې پارې خو ستا که قلم اوپاري

ته ئې پښتو سنګار کړه په غزلو کښې

ګوره چې بیا څومره عالم اوپاري

خو به تېند کونه نظرونه نوري

ستا خو په ښائست هم ادم اوپاري

ما عاطر ته یاد نه وي چې څه اوشي

خیال کښې مې چې کله صنم اوپاري

***

PUKHTO.NET

یاران زمونږه په کتو زولنې
نظر ته اچوي په پښو زولنې

قانون ئې جوړ کړو لېونو دپاره
وي به په تلو هم په راتلو زولنې

دَ عقل ستر کوته جامونه نيسي
دلته به وي په دې کوڅو زولنې

زما سحر ما ښام غلام دے
دې مې دَ فکر په ورشو زولنې

PUKHTO.NET

دَ تخیّل ناوې په کور زړه شوه
بام او سپوږمۍ نه په ختوزولي

عاطر خوغاړه ورته نه کښېوده
څنګ ئې قبول کړے دَ کمخو زولي

*

* * *

*

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

څولۍ غمونه نور به وي اوکنه
يه! د زړه سره پور به وي اوکنه

مينه خو بې ددې نه مينه نه وي
کړه مې ښکاره څه تور به وي اوکنه

ډېر لرې لاړمه هېڅ خوند نه کوي
پټۍ د زخم کور به وي اوکنه

اوښوې مودې تېرې ته نه يم وتے
ټنګ د رباب د سور به وي اوکنه

دَ خپل غزل مصرعو له ژوند ګوارمه
دَ بنګړو شرنګ او شور به وي اوکنه

چې دَ شعور په کورکښې بل کړي مشال
يو څو بنګړي اوريه وي اوکنه

کړه راته شمار دانه وانه ګمونه
ستا دَ زلفانو زور به وي اوکنه

دَ ژوند په ژمي کښې زخمي عاطره
دَ ترمې خُلې تکور به وي اوکنه

PUKHTO.NET

* * *

که احساس دَ مینې خان دے
خو دې کلي کښې ژوند ګران دے

دَ خلوص نه نا اشنا دي
دلته هر سړے په ځان دے

دَ ژوندون سره زیاتے دے
دَ وختونو پکښې زیان دے

نفرتونه ترېنه څاڅي
پکښې څیرې هر ګرېوان دے

PUKHTO.NET

دَ بارودو دوړې خېژي
رنګ بدل چې دَ اسمان دے

شمعې نهٔ دي چې مې راوړي
دا دَ اوښکو چراغان دے

ښکارې بیا مطلب راخستے
چې موسم څهٔ مهربان دے

دَ مینو مینځ له راغے
دا رقیب څومره نادان دے

دَ عاطر نه چې مخ اړوي
په هغه پسې روان دے

PUKHTO.NET

دَ غرېو په تاربانډې ګنډمه ژړا
سترګو کښې ياره بېرته ورمه ژړا

مئين دَ مينې يم پوهېږې خلق
پټه دَ خلقو نه ساتمه ژړا

دَ خوشحالئ ژړا مې اونهٔ ليده
زما خو تل وی ستا دَ غمه ژړا

ياران تپوس کوې چې څله ژاړې
هسې خو نهٔ وې بې ستمه ژړا

PUKHTO.NET

دَ نصيبونو وېش دے څۀ اووایو
دَ چا وي ډېره دَ چا کمه ژړا

دَ ژړا چل دَ فريب نۀ پېژنو
مونږ خو ساتو دوه څاڅکي نمه ژړا

دَ ښتنو غمونه ختم نۀ شول
عاطره تۀ کړې بې دمه ژړا

PUKHTO.NET

* * *

ستاسو په خیال کښې به اسان کلے شي
ماته ښکارېږي ډېر په ګران کلے شي

مینه حکمت دے مینه ژوند جوړوي
بغیر د مینې څنګ ودان کلے شي

خندا تهما د مینې ډک وختونه
که وي پردے هم د جانان کلے شي

سترګو کښې غواړي ورورولي د زړونو
خپله به بیا جنت نشان کلے شي

PUKHTO.NET

نفرت سېزل غواړي په سرو اُورونو
دَ محبت چې ثناء خوان کلے شي

خوابۀ په سترګو کښې لږ اوځلوه
جانانه ستا نه چې قربان کلے شي

زمونږ دپاره حالات اُور وروي
خو په یارانو مهربان کلے شي

په تش سلام هم دَ جانان اؤ زما
دَ اُور لمبې وې رقیبان کلے شي

عاطره خۀ دَ قوم جواب به کوے
په تا پسې که چرې وران کلے شي

* * *

PUKHTO.NET

ما نه چې څوک ستا ټپوس کوي لار کښې
دا لکه زما ټپوس کوي لار کښې

فرق زهٔ په تا او ځان کښې نهٔ وینم
هسې نن سبا ټپوس کوي لار کښې

زړونو کښې به څهٔ لري زهٔ څهٔ خبر
خلق په خندا ټپوس کوي لار کښې

تهٔ ورته ځواب دَ مینې اووایه
دا ځلي چې بیا ټپوس کوي لار کښې

PUKHTO.NET

ته شوې رخصت عبدالحکیمه[1] تری
ستا به اوس دُنیا تپوس کوي لار کښې

زړه راته سیته کښې په توپونو شو
بس ستا دَ ادا تپوس کوي لار کښې

مینه ددې کلي نه الوتې ده
چرته څوک دَ چا تپوس کوي لار کښې

سوکه هېرو نهٔ ده خو بې قدره ده
ستا دَ پښتو نخوا تپوس کوي لار کښې

عشق او مشک عاطره پټېدے نشي
خلق شا په شا تپوس کوي لار کښې

PUKHTO.NET

---

[1] باباځ ملاکنړ - ستر شاعر او لوې صوفي

PUKHTO.NET

نغمې دَ محبت په تمام دَ مینې جوړ وو
ملګرو یو شئ یو شئ نام دَ مینې جوړ وو

دَ شک نظر به اړو په تورو تورو غرونو
یار یار ته چې ولاړ وي بام دَ مینې جوړ وو

چې درد پکښې پیدا شي ټول بدن کړي ناقراره
په ښکلي اتفاق اندام دَ مینې جوړ وو

چې ته پکښې سر او خوري او ذره ذره هم پکښې ته وي
یو رنګ شي دَ فکر ونو پام دَ مینې جوړ وو

راځئ چې شو راغونډ په يو مرکز سره ملګرو
سحر به خندي ، ماښام د مينې جوړوو

چا سل به د ساخکو په هوا کښې وي ليدلي
ترتيب داسي پکار دی کام د مينې جوړوو

عاطر به غم غصه د زړه نه لرې کړي رقيب ته
يارانو شئ راځو ل کلام د مينې جوړوو

٭
٭ ٭ ٭
٭

PUKHTO.NET

PUKHTO.NET

جانانه مه اوډدېږه لاړ کښې خلق پوهه به شي
ستړګو اخستې دې په ښکار کښې خلق پوهه به شي

چې بنیادونه دې ګلې تر څو ختم نه وي
اوسه د وخت په انتظار کښې خلق پوهه به شي

د چا خوږه پښتو خبرو پسې یاره مه ځه
تا به دهوکه کړي په اعتبار کښې خلق پوهه به شي

فطرت کښې لې زمونږ زړونه دې په تار د مینې
خو تله راتله دې کړه په وار کښې خلق پوهه به شي

اوښ اوښ کړخپل دل ستا د مینتوب ښغبې دي
اوس په خومره بشکلې بښار کښې خلق پوهه به شي

زړګیه دلته هر قدم به په سوچ فکر اخلې
کلونه مه غواړه بهار کښې خلق پوهه به شي

یاران د جبر مصلحت په مونږ ډاسې کوي
غږ هم نه کړو انکار کښې خلق پوهه به شي

عاطره تل د سپوږمۍ مخې د داله دیاره
محبت پټ ساته سنګسار کښې خلق پوهه به شي

* * *

PUKHTO.NET

درله بېګاه له دُعا څنګ اوغوارم
جانانه تاله دُعا څنګ اوغوارم

دَ ارمان پښو ته مې بېړۍ اچوي
نو داسې چاله دُعا څنګ اوغوارم

خوب کښې راځي په وېښه لرې تښتي
ژوند نيمه خواه له دُعا څنګ اوغوارم

رنګ چې جوت دَ حقيقت شي پکښې
داسې وېنا له دُعا څنګ اوغوارم

PUKHTO.NET

زما خو یو هم هنر نهٔ دے اِزده
چل دَ دُعا له دُعا څنګ اوغواړم

چې مینه وي نور هیڅ هم نهٔ وي
ښکلې دُنیا له دُعا څنګ اوغواړم

عاطره تهٔ لیونے څهٔ ته وائي
نهٔ درځي خواږه له دُعا څنګ اوغواړم

* * *

PUKHTO.NET

ستا محبت یاره په لوئے ځان راسره څه کوي
یا د کلي خلق ظالمان راسره څه کوي

تاته دې خدائے خس کړي چې رسوا نشي په کلي کښې
ګودر چې ریښې ریښې ګریوان راسره څه کوي

زۀ د محبت په سر دروکښې زلمے شوے یم
څه! لاس ئې ازاد چې رقیبان راسره څه کوي

تۀ که د خپل حسن جاګیرداره ئې راتلې نشې
ستا ښکلې یادونه چراغان راسره څه کوي

PUKHTO.NET

ما ته چې زما دَ زړهٔ دنيا واړه رنګينه کړې
ګرځې مې دَ فکر شنهٔ طوطيان راسره څهٔ کوې

ما ځوانۍ ته نهٔ پرېږدې په مخه ئې اخستے يم
وخت هم بې وفا دَ يار په شان راسره څهٔ کوې

موږ ورته په چل زړونو ته مينه رسول غواړو
ګورې په نظر چې دَ ګمان راسره څهٔ کوې

ما عاشق په سر سترګو خپل خون درته بخښلے دے
کاش يو اځې نهٔ يمه ارمان راسره څهٔ کوې

* * *

PUKHTO.NET

ارمان دې خفه نه شي د جانان زړه به ساتو
جانان دې کوي صبر د ارمان زړه به ساتو

خولې دې ملغلرې دي د سقانه د سرو زرو
خو بیا هم څه نه څه کنه د خان زړه به ساتو

تو بدل دې د ببه نه دي هسې نه چې اور تري بجور شي
اے اوبشکو ساده کانو د ګریوان زړه به ساتو

حاجت ورته په ګوته کړې څه نوي نوي لارې
ملګرو ګورې واورئ د انسان زړه به ساتو

عاطر وایم ملګرو روغ دې پاتې شي روغ زړونه
او زکار یو شاعران یو خو بس وران زړه به ساتو

PUKHTO.NET

که پردي دي او که خپل ته غاړه اوځي
مئينان وي چې يو بل ته غاړه اوځي

د ګلونو مقام زيات ځکه وي له دې نه
چې جوړې جوړې او ربل ته غاړه اوځي

خبر که نه راځي جانانه خفه نه يم
ستا يادونه مې ګوګل ته غاړه اوځي

زما زور د محبت خو دومره نه وو
نو بيا څوک مې د زړه تل ته غاړه اوځي

ما به او سپږي ستي په اوُر کښي
سترګي ستاڅي دي کجل ته غاړه اوږي

دریغه زهٔ هم دَ سپرلي مستې هوا وے
چې بې خوفه لمريو ګل ته غاړه اوږي

دَعاطر دَ مصرعو سوچ څهٔ اعجاز نهٔ کړے
قدرتي طور غزل ته غاړه اوږي

* * *

PUKHTO.NET

چې سترګو له مې راوړې ناخبره شوګېرې
نو ټوله شپه شي تر سحره شوګېرې

څه نوم د لېونې به ځان ته خوښ کړمه يارانو
تل وي چې زما دا رنګې بې سره شوګېرې

په چل د محبت خونه پوهېږې يار درو کې
راوړې په چل هنر مې تر بستره شوګېرې

يو ته ئې چې تيارو کښې مې د خيال دنيا ته راشې
بس ځار دې شي لتانه د زړه سره شوګېرې

PUKHTO.NET

مونږ میني له ژوند غواړو هم ژوندون لمینه غواړو
تل وي راته په ژوند دَ هرڅهٔ بره شوګیرې

مجبور یمه دَ خپل پښتون فطرت دَ خصلتونو
ښکلی اوُشرم ملګرو دَ خپل وره شوګیرې

بنا ئُ نبې درسره دَ قام شاعرچې يُ عاطره
په غم کښې دَ پښتون دَهره دره شوګیرې

* * *

PUKHTO.NET

ګله تل داسې په ښنېر به نه یې
په هواګانو د سحر به نه یې

دلته بدلېږي لکه برق د بریښنا
لا د وختونو په نظر به نه یې

د اور ځانګو کښې ژوند جوړې ورکوي
څنګه اشنا سوے ځیګر به نه یې

که لېونو سره یو ځاے نه شومه
د سترګو تور د زړګي سر به نه یې

PUKHTO.NET

درله مې نوم چې دَ جانان غوره کړو
وایه بیا خنګه ستمګر به نهٔ یې

مینه دَ بنسه استقامت نخښه ده
دَ ګرانو لاره په ګذر به نهٔ یې

عاطر خو زړهٔ کښې درله ځاے درکوي
خو په مزاج یې برابر به نهٔ یې

که یې عاطر نو خواوشا به اوسې
ولې دَ کلي نه بهر به نهٔ یې

* * *

PUKHTO.NET

ژوند راکوي هم مې ژوندون اخلي
څومره په چل هنر مې ټون اخلي

دا د زوړ فکر دا زاړهٔ فکرونه
جانان زمانه په بېلتون اخلي

چا ته چې پته وي نو هغه خلق
ډېر په ادب نوم د پښتون اخلي

وخت زنځير ونه شرنګوي به هسې
لېوني ژوند له سباوون اخلي

PUKHTO.NET

زهٔ تورتمونو له "لیتکي" راوړمه
یاران مطلب تري دَ جنون اخلي

جانان دې خوب کوي عاشر شو ګیرې
ورله سلمان چې دَ سکون اخلي

عاشر له هرېو درد مزه ورکوي
قدم قدم ستا په لټون اخلي

***

PUKHTO.NET

چې دَ الفت دَ زوره نهُ خبرېږي
هغوئ دَ ژوند دَ سوره نهُ خبرېږي

مازیګري جوړي بې آمنه ښکاري
څوک دَ وړو دَ شوره نهُ خبرېږي

لمبې کړه پورته په بلې اودرېږه
خلق دَ داسې اوره نهُ خبرېږي

دَ نظر تنده په نظر سړهٔ وو
خوشې دُنیا چې نوره نهُ خبرېږي

PUKHTO.NET

هغوئ به څهٔ قانون دَ مینې جوړ کړې
خپله دَ خپله کوره نهٔ خبرېږې

زمونږ دَ وینو رنګ به خواه مخواه وي
افسوس نظرشمکوره نهٔ خبرېږې

ځوانئ دې سوزې دَ پردېس په لمبو
دَ خپل وطن سمسوره نهٔ خبرېږې

عاطرؔ په چا اولیکې څهٔ اولیکی
دَ لګېدلې توره نهٔ خبرېږې

* * *

PUKHTO.NET

عاطر یوسفزے دَهغه وخت
شاعر دے کله چې ما په ادبي دُنیا
کښې خرپوسې کولې. دا دَ ۷۷ء او
۷۸ء خواؤشا خبره ده. دے دَ هغه
وخت دَخپلې سیمې په پیژندلو
شاعرانو کښې شمیرؤ او دَملاکند
دَادبي کاروان یو بنیادي غړے
دے. خو دَبده مرغه دَروزګار له غمه
په اووهٔ سمندرونو پورې وتونو هاله
چرته تیکاؤ شو. نن چې دَدهٔ کومه
شاعري زمونږ په لاس کښې ده. دا
په اووهٔ سمندرونو وینځلې شوې
پاکه ساکه اؤ نمکینه ده خو بیا ترې هم
دَخپلې خاورې وږمې خیژي. دا سې
وږمې چې پښتنون روح معطره
ساتي.
خدائے خبر چې دَدې
شاعرۍ سره به څهٔ کیدل خو دَعاطر
صیب زوئے اؤ بیدار مغزه زلمي
شاعر خیاّم یوسفزي دَدې چاپ ته
ملاوتړله. هیله ده چې دا کتاب به
ستاسو خوښ شي.

منته
اباسین یوسفزے
پښتو څانګه
پیښور پوهنتون

۲۰۰۴/۶/۱۵ء



Pukhto.Net

دَ زړهٔ دَ درد نغمې چې تل شوروي
عاطرؔ به څنګ دَ چاله زړونو اوځي

عاطرؔ یوسفزے